دنومبرپر۲۷مه نیټه رسنۍ خبرورکوي چې:اربکي ملښود لوګرولایت مرکزته نژدې په کمال خیل کي دکلي دملاامام(بشیر) پرکورراکتي حمله وکړه چې له امله یې دنومورې دکور حجرې\کوټې ته زیان واوښت.وروسته اربکیان په خپل منځ کي سره ونښتل ،چې په پایله کي یې دواړه لوته مرګ ژوبله واوښتله ،اربکیانو سهارپه همدې سیمه کي دیوبل مسجد ملاامام (ملاعبدالاحد)له جوماته ایستلی اوبیایې په وهلووهلوکي شهید کړی دی.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپانه ،لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

دهیواد دنامتواوجیدعالم :

مولوی صاحب فضل الرحمن رحمه الله ژوند !

مرګ او ژوند دواړه دلوی څښتن په لاس کې دي .څومره خلک چې نړۍ کې ستر ګي پرانیزې هغومره بیاله نړۍ کوچ کوي، هیڅوک هم په نړۍ کې د تل پاتې کیدو واک نلري، په ټاکلې نیټې پیدااو بیا په ټاکلې نیټه له نړۍ درومي،له آدمه تر دې دمه د مرګ اوژوند په هکله دلوی څښتن ټولې پریکړې عملي شوي، ژوند ډیر خوږ او مرګ ډیر تریخ دی ،البته له خوږوسره ترخه ملګري وي، ژوند د مرګ لپاره وي خو د چا په واک کې نه وي، هر بشر چې نړۍ ته راځي د مرګ په پله تیریږي،ښه انسان هغه دی چې دا تریخ حقیقت یې په خواږه حقیقت بدل کړ .

دداسې حقیقت پیژندونکیو اشخاصو له جملې څخه یو هم ستر علمي شخصیت مولوی صاحب فضل الرحمن پکتیاوال و، چې له ۸۵ کاله ژوند وروسته یې د جمعې په مبارکه ورځ ماسپښین د دسمبر په ۱۴ نیټه ۲۰۱۲ میلادي د محرم الحرام په ۲۹ مه ۱۴۳۴ ه ق کال له نړۍ ستر ګې پټې کړې، نومورې په ۱۳۰۶ لمریز کال د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالۍ اړوند د کوسین د خوشحال خیلوپه کلې کې په یوه دیندار او علمي کورنۍ کې زیږیدلی وه، د قاضی ملا افضل محمد زوی د عبدالعزیز لمسی د ملا صالح محمد کړوسی او د ملا مراد خان کودی و، په ختې اکاخیل ،نومورې په کوچني والې کې په دیني زده کړو پیل وکړ ، لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه وکړې او لوړې دیني زده کړې یې په مختلفو سیمو کې د وخت له تکړه او نومیالیو دیني عالمانو څخه ترلاسه کړې ، چې د لوګر ولایت تکړه او مبارز عالم دحق دلارې شهید مولوی ګل محمد نیازی ، مولوی صاحب ذوالفقار دلوګر د سیسیت، مولوی فیض محمد صاحب دلوګر د برکې برک چې د دوآبې په مولوی صاحب مشهور و، مولوی صاحب درمحمد مشهور په ملابزرګ، مولوی صاحب میر احمد مشهور د آدینې ملاصاحب ،او شیخ الحدیث مولوی صاحب محمد عظیم د لوګر ولایت د کلنګار د سیمې چې د عزیز احمد کلا په ملا صاحب مشهور و او د اروابناد شیخ الحدیث محمد نعیم اخندزاده (کوڼ مولوی صاحب) پلارو ،دده د استاذانود فهرست په سر کې قرار لري چې بالاخره یې د حدیثو مبارکو کتابونه هم له شیخ الحدیث مولوی صاحب محمد عظیم څخه ویلی او د فضیلت پکړۍ یې ورڅخه په سر کړی وه . له فراغت وروسته یې په خپله سیمه سید کرم عثمان خیلو کې دیوې دیني مدرسې بنسټ کیښود او تر کمونستي انقلاب پورې خورا په زړه پورې تدریس پکې وکړ .زیات طالبان به ورسره دیره وو او ښه شهرت یې لاره، په قاضی ، حمدالله، غفور او خیالی کې یې تر ډیرې لیرې سیمې پورې د مهارت او شهرت انګازه تللې وه، کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال ۱۳۹۹ هق کمونستي انقلاب رامنځ ته شو، د داودخان نظام یې ړنګ او په ځای یې شوروی پلوی الحادي نظام خلق دیموکراتیک رژیم اعلان کړ ، نو د دیني علماوو او قومي مشرانو په نیولو، شکنجه کولو، او وژلو یې پیل وکړ هماغه وچې د هجرت بهیر د پاکستان په خوا ورمات شو، دی هم د خپل دین، ناموس او وطن د

ساتنې په خاطر هجرت ته اړشو. ګاونډي هیواد پاکستان ته یې هجرت وکړ او د خیبر پښتونخوا په مختلفو سیمو او کیمپونو کې یې هستوګنه وکړه، هغه له هجرت وروسته د روسانو او کمونستانو په خلاف په جهاد لاس پورې کړ. د افغان جهادد ستر لارښود مولوی صاحب محمد نبی (محمدی) تر قیادت لاندې د سید کرم ولسوالۍ اړوند د درې واړو قومونو احمدزیو، طوطاخیلو، او منګلو د جهادي حوزې د امیر په توګه وټاکل شو، چې تر ډیرې مودې پورې یې دا دنده په خورا امانتداری او اخلاص تر سره کړه، نومورې د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان د جهادي ګوند په قضاء کې هم غړی و. او ورسره یې د افغان مهاجرینو او مجاهدینو اړینو مسایلوته د حل په خاطر د تنویر المجاهدین په نوم په څو مسلسلو ګڼو کې د نورو علماوو تر څنګ فعاله ونډه درلوده. نومورې د هجرت په دیار کې پنځه کاله د حرکت په مدرسه جامعه محمدیه چراټ کې، یو کال دهنګو په منهاج العلوم کې، یو کال د کرم ایجنسۍ د شهیدانو ډنډې په مدرسه دارالعلوم صدیقیه کې د دیني علومو تدریس وکړ، د طالبانو د اسلامي خوځښت په رامنځ ته کیدو ډیر خوشحاله او د هغوئ ملاتړی شو او د تحریک دځینو مشرانو په غوښتنه د خوست ولایت جهادي مدرسې ته لاړ. یو کال یې هلته تدریس وکړ بیا یې د جلال آباد درونټه صدیقیه مدرسه کې څلور کاله دزرګونو طالبانو علمي تنده ماته کړه، په ۲۰۰۱ زیږدیز کال چې صلیبي یرغلګرو زمونږ په هیواد او د اسلامي امارت د ګردې نړۍ په حشر راټولولو یرغل وکړ او اسلامي امارت ړنګ شو نومورې بیا هجرت ته اړشو او ګاونډي هیو د پاکستان ته مهاجر شو. هلته یې هم خپل دیني مسؤلیت د تدریس په ډول سرته ورساوه، د مانسهرۍ دخاکي کیمپ په جامعه نعمانیه کې یې یو کال تیر کړ. له هغه ځایه بیا د پیښور باغبانانو نورالمدارس مدرسې ته راغی او تر ډیرې مودې یې هلته د نورو علومو تر څنګ د حدیثو مبارکو تدریس هم وکړ، چې بیا د عمر د زیاتوالي او ناروغۍ له کبله په کور کیناست. د کتابونو په مطالعه، ذکر او فکر، تلاوت او عبادت لګیاشو تر څوېې له نړۍ ستر ګې پټې کړې.

د رواښاد مولوي صاحب فضل الرحمن پکتیاوال ډیر زیات ښه صفتونه لرل، ښه عقلي او نقلي عالم او قومي مشر و، خوش طبعه او مذاحي انسان و، سخاوت یې درلود. له دیني طالبانو او شاګردانو سره یې خورا شفقت، مینه او اخلاص درلود، داوسني وخت د اکثرو مشهوره دیني عالمانو، مدرسینو او شیوخو استاذ وو.

د پیښور دله زاک روډ ګل آباد کې د قاضي صاحب عبدالعزیز په کور کې واده ته رابلل شوی و، له ده مخکې نومیالی عالم مولوی عبدالستار (صدیقی صاحب) پیر طریقت استاذ صاحب، شیخ الحدیث مولوی عبدالغنی صاحب او شیخ الحدیث مولوی عبدالواحد او ځینې نور عالمان راغلی وو. کله چې رواښاد مجلس ته ننوت، نو خپلې کلوشې یې هم د کوټې له دروازې را دننه کړې، چې دنورو هغه له دروازې بهر یوې خواته ایښودل شوی وی، نو د کلوشو له کښلو سره یې دا جمله په زوره وویله ((النعلین تحت العینین)) چې ټولو ورته وخندل.....

له نومورې څخه ډیر شمیر شاګردان او پنځه زامن، یوه ښې، دوه لونې پاتې دي، په زامنو کې یې مولوي صاحب شمس الرحمن او مولوی صاحب نجم الرحمن له دیني علومو څخه فارغ او د هغه ځای ناستي دي.

انا لله وانا الیه راجعون

شیر آغا رشیدي

ذبیح الله (مجاهد)

خوشبی له خپلولس سره

محترم مجاهد صیب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

خدای تعالی دې تاسو او ټول مجاهدین په خپل حفظ کې ولري ، وروسته له دې زمایوځو پوښتنې دي چې تاسو ته یې استوم ، که راته ځواب مو کړې ډیره مهرباني به مو وي ، مننه عبدالله

۱ـ له هر څه نه مخکې که په او سني جهادي بهیر رنا واچوئ؟

ځواب : وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! خدای تعالی دې تاسو هم روغ او په خپل حفظ کې ولري ، داچې تاسو د اوسني جهادي وضعیت په اړه پوښتلې ستاسو په ځواب کې دومره ویلای شم چې: الحمدلله په هیواد کې جهادي وضعیت له پخوانیو ټولو وختونو په ډیر قوت سره په مخ روان ده ، سرکال د الفاروق عملیاتو په جریان کې دښمن خورا سخت وځپل شو ، په ټول هیواد کې په زرهاوو بریدونه پرې وشول ، درانه ځاني او مالي تلفات ورته واووښتل ، په مهمو او محفوظو نظامي مراکزو او قرارګاوو یې مؤثر او خورا لوی ګوزارونه وشول چې له یوې خوا یې درانه ځاني او مالي زیانونه ورته واړول اوله بله پلوه یې ددوي ټول قوت وننګاوه ، ټول نظامي اعتبار یې ورته له خاورو سره خورې کړ ، دا سې عملیاتو په وجه دښمن ارشو چې په سلهاوو خپل نور مراکز دهیواد په ډیرو مهمو نقطو کې تخلیه کړي او دتیښتې لاره خپله کړي ، دا اوس اوس بهرني او کورني دښمن په ټول هیواد کې خپله روحیه بایللې ،لاره تړي ورکه ده ، هره ورځ یې مشران دمأیوسۍ او ناکامۍ په وجه بدلیږي او استعفاوي کوي اوکاملا داضطراب او سرسامۍ په حال کې دي ، بل خوا مجاهدین الحمدلله له ډیر ښه قوته برخمن دي ، ډیره عالي روحیه لري ، دنظم او

دسپلین له پلوه خورا پیاوړي شوي ، چې دې ټول وضعیت ته په کتو ټولو هیوادوالو ته دخورا نیږدې لوی فتحې او ورستي بریالیتوب زیږي ورکوم او ان شاءالله چې نوربه موهیواد آزاد او داسلامی نظام ترچتر لاندې د آرام او هوسایې ساه واخلي او د شهیدانو آرمانونه به مو یو په بل پسې پوره کیږي. ان شاءالله

۲. داسلامي امارت دمجاهدینو نظم څنګه ده ؟

ځواب : تاسو ته معلومه ده چې دنظم دبرقرار ساتلو لپاره داسلامي امارت مجاهدین څو مهم او خورا مضبوط اصول لري چې هغه ددې باعث دي ترڅو نظم هره ورځ پیاوړې شي او دپوره اما رتي چوکټ په منځ کې مجاهدین خپل ورځني فعالیت پرمخ بوځي . ترټولو مهم اصل شرعي اصولو ته دمجاهدینو په اتفاق سره کلکه پابندي ، دامیرکماحقه اطاعت ، په خپلو مشرانو کلک باور او اعتماد ، دمجاهدینو ترمنځ دوروری فضا ساتل ، په هرڅه کې بل مجاهدته په ځان ترجیح ورکول او ایثار او په اخلاص سره داسلامي امارت لخوا ترتیب شوي لائحې ته ژمنتیا او په ټولیزه توګه هرڅه دالله تعالی درضامندی لپاره ترسره کول دا ټول هغه څه دي چې په ټول هیواد کې یې مجاهدین لکه یوه کورنۍ په اتفاق او نظم کې ساتلي او هڅه روانه ده چې یادو ټولو اصولوته لاهم کلکه توجه او پابندي وشي او په هرڅه باندې شرعي اصولوته ترجیح ورکړل شي ، البته په دې کارکې دهیواد دیني علماؤ ، مشایخو او تجربه لرونکو سپین ږیرو او مشرانولخوا دوخت په وخت مشورو او نصحیتونو رول هم ډیر دستیني وړ دي.

۳ – اوریدل کیږي چې دمجاهدینو په نامه ځینې کسان له خلکو نه په زور پیسې اخلي ایا دا کسان هم داسلامي امارت مجاهدین دي ؟

ځواب: نه قطعا نه ! هرهغه څوک چې دمجاهدینو له نوم نه په استفادې سره ، له خلکو پیسې اخلي او جهاد دخپلو دنیوي مقاصدو دپوره کولو وسیله ګرځوي داسلامي امارت په صفوفو کې داسي اشخاصوته په هیڅ وجه هم ځای نشته ، داسي جنایت کار اشخاص په خورا جدي توګه داسلامي امارت له لیکو ایستل کیږي او دخپل شوم عمل جزا به وینې ، داسلامی امارت دلائحې په (۷۱ او ۷۳) مادو کې راغلي دي:- ۷۱ (داسلامی امارت مجاهدین دې له چا څخه په زور عشر ، زکات او چنده نه ټولوي.....)- ۷۳ (دپیسو لپاره دخلکو تښتول که په هرنامه وي ممنوع دي ، او دمربوطه سیمې مسئول دې په کلکه مخنیوی وکړي ، که داسلامي امارت له نامه څخه په استفاده څوک داډول عمل کوي

دولایت مسئول به دغه جنایت کاران دمشرتابه په هدایت بې وسلې کوي او سخته سزا به ورکوي.(صفحه ۲۱ـ۲۲)

پورته لاربښونو ته په کتو داسلامي امارت مجاهدین په هیڅ نامه هم دخلکونه په زور سره پیسې نشي اخیستلای او نه هم دغسې کسان داسلامي امارت په صفوفو کې پریښودل کیږي ،حتی زمونږ عام او کشران مجاهدین لا او س په دي خبره پوه دي که یې الله دي نه کوي کوم مسئول امر ورته وکړي چې فلانئ سړی و تښتوئ او بیا پیسې ځینې و ا خلئ نو هغه کشران په دي اړه دمشرانو امر دشریعت خلاف بولي او نه یې عملي کوي او پورته لویو مشرانو ته خبر ورکوي او فورا داسي مسئول بې وسلي کیږي او افراد یې ملګرتیا نه کوي ، زه دټولو عامو مجاهدینونه هیله کوم چې که احیناً په کوم سیمه ایز مشر دداډول تخلف وویني خامخاډ ترلورومشرانو خبره رارسوي او په دي برخه کې داسلامي امارت اصول دومره سخت دي چې دکرزي د اداري له کسانو هم پیسې نه اخستل کیږي هغوئ که هم و نیول شي نو که معاف نشي نوري شرعي سزا وي ورکول کیږي خو دپیسو ا خستلو اجازه هیڅا ته نشته، نو ویلای شو چې دداسي اعمالو تر سره کونکي داسلامي امارت کسان نه دي ،او که وسلوال غله دا سي عمل کوي او یا نور څوک دمجاهد له نامه په دا ډول نا روا کړنو کې استفاده کوي او داسلامي امارت مجاهدین پري خبرشي نو هغوئ ته هم شرعي سزا ورکوي .

۴.نو چې داداسلامي امارت مجاهدین نه دي تاسو یې ولې مخه نه نیسئ ؟

ځواب: داسلامي امارت محکم او کمیسیونونه مکلفیت لري چې دداسي قضیاوو موارد پیدا کړي او په کلکه سره یې مخه ونیسئ ، دا اوس ډیر داسې کسان ماته معلوم دي چې دهمداسې تورونو په وجه مجازات شوي دي ، البته په دې برخه کې لا هم ډیرې جدي توجه او عملي ګامونو ته اړتیا شته چې لله الحمد داسلامي امارت ټول مسئولین ورته ژمن دي او حتمابه دداسي کسانو چې وپیژندل شي مخه نیول کیږي او دخپل شوم عمل سزا به وینې.

۵.داچې کله نا کله داسي چاودني کیږي چې په هغو کې عامو خلکو ته دسر او مال زیانونه اوړي دادچا کار بولئ ؟

ځواب: داسې پوښتنو ته مورږ ډیر ځلي ځواب ویلی خو دامهمه مسئله بیا هم په دې ارزې چې بیا یې په اړه داسلامي امارت شرعي موقف روښانه کړم ،داچې ځینې وخت

داسې چاودنې کيږي چې اصلا يې هدف معلوم نه وي او يا صرف عام خلک پکې په ننبه شوي وي ، داسلامی امارت مجاهدينو ته د داسې عمل اجازه نشته او نه هم هيڅ واقعي مجاهد داسې کوي . عالیقدر امیرالمؤمنین داختر په پیغامونو او خصوصي لارښونو کې دملکي خلکو د سر او مال ساتنه د هر مجاهد وجیبه بللې ده او ټول مجاهدین په دې مکلف دي چې خپل جهادي عملیات داسي تنظیم کړي چې په هغو کې ملکي او داسي خلکو ته چې په جګړه کې ونډه نلري زیان ونه رسیږي ، خصوصا له ماینونو او نورو چاودیدونکو موادو سره باید خصه پاملرنه وشي ، دملکي خلکو ژوندته پام کول اوس دمجاهدینو لپاره یو لوی هدف دی چې باید دخلکو په وړاندې د شرعي مکلفیت له مخې دهغو ژوند ته جدي پام وشي او دالوی الهی نعمت (ژوند) دبی احتیاطي او بې پروایي له امله له خلکونه وانه خیستل شي چې په هیڅ ډول هم بیا جبیره نه لري ، که هرڅوک قصدا داسې عمل ترسره کړي چې په هغه سره ملکي او عامو خلکو ته زیان اوړي داسلامي امارت لخوا له داسې کسانو سره سخت حساب کیږي . موږ بیا هم ټولو هغو ورونو ته چې ځانونه اسلام او داسلامي امارت لارښونو ته پابند بولي یادونه کوو چې دملکي خلکو له ژوند سره سخت پام وکړي ، ماینونه او نور چاودیدونکي شیان دښمن ته په داسې ځای کې ځای پرځای کړي چې صرف دښمن ته زیان اړوي او عام خلک یې له ضرره په امن کې وي ، خصوصا سپین ږیري ، ښځې او ماشومان یې قرباني نشي ، جهاد واقعا احتیاط غواړي په داسې ځایونو کې چې مجاهدین د دښمن په ضرر هم تر ممکنه حده صبر کوي چې په عکس العمل کې یې ملکي خلک وژل کیږي او ټپي نیږي ، که مجاهدین دالله تعالي لپاره د عامو خلکو ژوند ته پام وکړي او په دښمن باندې هم په داسې ځایونو کې چې دملکي تلفاتو ویره وي برید ونکړي نو امید شته چې په عوض کې به یې غیور الله جل جلاله دښمن په بل ځای کې مجاهدینو ته په لاس ورکړي او له هغه نه به لاډیر او ښه تلفات دښمن ته واړولی شي ، ان شاءالله. البته ډیر ځله دښمنان هم عامو خلکو ته ضرر رسوي او بیا یې په مطبوعاتو کې پره په مجاهدینو وراچوي تر څو مجاهدین بد نام کړي او موږ دا ډول پیښو ډیر واضح ثبوت ونه لرو.

۶. تاسو یې په مخنیوي کې څه کړي ؟

ځواب: ما مخکې یادونه وکړه چې که داثابته شي چې داسلامي امارت پورې اړند مجاهد داسې عمل وکړي او دملکي خلکو په منځ کې انفجار او چاودنې رامنځ ته کړي ، نو حتما به داسې کسان له شرعي محکمې سره مخ کیږي ، اسلامي امارت په هیڅ وجه هم

مجاهدینو ته ددې اجازه نشي ورکولای چې دعامو خلکو له ژوند سره لوبې وکړي ، زمونږ ټوله مبارزه دعامو خلکو دژوند او سعادت لپاره روانه ده ، شخصي عبادت خو هرڅوک هرچیرې کولای شي اوزمونږ لاس هم دشخصي عبادت نه چا نده نیولی خو دامبارزه مو داجتماعي عبادت (اسلامي حاکمیت او اعلاء کلمة الله) لپاره روانه ده چې داسي عبادت دخلکو دسعادت لپاره پرمونږ لازمي شوی او دخلکو دکفرله شرنه دمحافظت په وجه زمونږ فریضه بلل کیږي ،نو بناء هرڅه مو دخلکو دسوکالۍ لپاره دي نه دهغو په ضرر .

۷.دشیعه او سني مسئلي ته تاسو په کوم نظر ګورئ او په دې اړه داسلامي امارت پالیسي څه ده ؟

ځواب: دشیعه او سني ترمنځ جګړې را پیدا کول او ګرمول دمسلمانانو په ګټه نه دي، اسلامي امت اوس دکفارو له یرغل او چپاوونو سره مخ دی، که په اوس زمانه کې هم ځوک په اسلامي هیوادو کې دننه جګړې راپاروي او کور په کور ددښمني اور ته لمن وهي په واضح توګه باید ووایم چې داسې عمل دمسلمانانو په خیر نه دی او له داسې کړنو به یواځې کفارپه خپله نفع ګټه تر لاسه کړي ، تاسو پوهیږئ چې نړدي په ټولو اسلامي هیوادو کې اهل سنت او هل تشیع ګډ ژوند کوي نوکه ددوی ترمنځ جګړې پیل شي ددې معني به دا وي چې د ټولې اسلامي نړۍ په هیوادو کې به کورنی جنګ پیل شي او داسې جنګ چې هیڅ پای به ونلري ،پای به ځکه ونلري چې دکثرت له وجې یو طرف هم بل طرف نشي محوه کولای نو بې پایانه جنګ به وي او اسلامي نړۍ به نوره هم شاته وغورځوي اوعواقب به یې ډیر خطرناک وي.نن داسلامی نړۍ ترمنځ یو سرتاسري وحدت ته اړتیا ده ، ددې کارلپاره هم باید اهل تسنن اوهم اهل تشیع جدي پام وکړي ، اوس اسلامي امارت دخپلې واضحې پالیسي له مخې هیڅاته اجازه نه ورکوي چې یو ځوک صرف ددې لپاره چې شیعه دی دبرید لاندې راولي او یا یې ووژني ، اسلامي امارت داسلامي امت دوحدت هلې ځلې کوي او ټوله اسلامي نړۍ باید دهغه اور غم وخوري چې دنړیوال کفر لخوا بل شوي او دمسلمانو ټولنو وچ او لانده ټول سوزوي.

۸.په دې برخه کې مو مجاهدینو ته سپارښتنه څه ده؟

ځواب: پورته ځواب کې مو مجاهدینو ته سپارښتنه هم شته هغه داچې ، اسلامي نړۍ اوس دغربي کفر له پلوه دبرید لاندې ده باید خپل ټول ځواک داشغالګرو کفارو ځپلو ته واړول شي ، اسلامي ملکونه ټول باید له دننیو مسائلو نه تیر شي او جنجالو ته لار هواره

نکړي ، په اسلامي وحدت سره باید دکفر دیرغل او تجاوز مخه ونیول شي ، له ډیرو مهمو نړیوالو مسائلونه باید خلک ددا خلي مسائلو په رامنځته کولو سره مصروف نه کړل شي ، نن امریکایي یرغل ترټولو خطرناک دی چې مسلمانان یې باید په مقابله کې پوره اخلاص وکړي او ټول موانع چې دجهاد دکمزورۍ سبب ګرځي باید مخه یې ونیول شي ، په دې لړ کې دسني او شیعه ترمنځ داختلاف موضوع هم نړیوال اوسني بحران ته په کتو یوه خطرناکه مسئله ده چې هیڅ جهت یې هم باید لویه نکړي او په دې اړه دټولو فتنو مخه ونیسي.

۹ – له اولس سره ستاسو دمجاهدینو اړیکې څنګه دي او دا اړیکې څو مره ضروري بولئ؟

ځواب: اولس له موږ نه جوړ دی او موږ داولس څخه نه بیلدونکي برخه یو ، مامخکې یادونه وکړه چې زموږ ټولې قربانۍ او زحمات دهمدې اولس دسعادت او آزادۍ لپاره دي ، موږ دهمدې اولس دنجات لپاره په جهد مأمور شوي یو ، اسلامي حاکمیت هم د همدې اولس په مرسته او دهمدې ولس لپاره غواړو ، اسلامي عدالت هم دولس دسوکالۍ او آرام لپاره غواړو ، دیرغل سره مخالفت او مقابله مو هم داولس دمسلمان پ تیکیدو او مسلمان اوسیدو لپاره دي ، نو ویلای شو چې اولس موږ یو او موږ ولس یو ، عالیقدر امیرالمؤمنین دولس سره دنرم او ښه چلند لپاره پخپل هر پیغام کې په خورا صراحت سره مجاهدینو ته امرکړی چې له اولس سره نرم او ښه اخلاق کوي ، ظلم او تیری درنه پرې ونشي ، حقوق یې ضایع نشي ، بل څوک ظلم او تیرې پرې ونکړي ، مجاهدین باید دخپل اولس احسانونه هیر نکړي چې دا یولس کاله یې په خپلو مالي او ځاني قربانیو ټول جهادي بهیر ساتلي او تقویه کړي ده . خپل زامن یې قربانۍ ته ورکړي ، کلي او کورونه یې دمجاهدینو لپاره بمبار شوي او خپل خپلوان یې دامریکایي ظلم او وحشت قربانی شوی ،نو ددې اولس ناشکري کول لویه جفا او نا ځوانې ده ، الحمدلله دمجاهدینو اواولس ترمنځ نه پریکیدونکي قوي اړیکي شته او ضرورت یې هم خوراز یات ده ، ددې اولس په مټ مجاهدین ژوند کوي او ددوي په حمایه یې کفار له ماتي سره مخ کړي دي ، نو باید دواړه خواوي هم اولس اوهم مجاهدین یو دبل قدر وپیژني او یو دبل حقوق په کلکه سره مراعات کړي.

رئیس جمهور جدید فرانسه قبل از انتخابات اش به کرسی ریاست جمهوری فرانسه چون از رویداد های این جنگ نابرابر و تلفات فرانسویان آگاهی داشته بمردم فرانسه اعلان نموده و اطمنان داد در صورت موفقیت در انتخابات عساکرش را از افغان می خواهد مردم فرانسه از اعلان او اظهار خوشی و سپاس نمود و شاید هم یکی از عوامل کامیابی موصوف در انتخابات این موضوع باشد.

رئیس جمهور به قول خود وفانموده در کشیدن افراد و صاحب منصبانش آغاز نمود روزنامه وزین شهادت در اخبار روز چهار شنبه مورخ اول قوس ۱۳۹۱ مطابق به ۲۱ نوامبر ۲۰۱۲ در ارتباط به این موضوع چنین گفته است (فرانسی په افغانستان کي د خپل ماموریت پای رسماً اعلان کړ) و این اقدام عاقلانه و انسانی خود را به جهانیان ثابت ساخت.

واقعیت تاریخ است که در برابر افغانان آزاد و آزادیخوا و استقلال طلب هیچکشوری در هیچ زمانی تاب مقاومت را نیآورده سر انجام با دست و پاه شکسته و گریبان دریده و روان مالیخوالیائی این سرزمین را ترک گفته اند. این خواص و خصلت افغانهای را که تسلط غیر را بر خود قبولدار نمی شود از یاد نبرد نادیده گرفتن آن حماقت است.

دوازده سال قبل از امروز انگلیس ها و امریکائی ها با متحدین خود چنان با تکبر و غرور بالای این خاک اولیاء حمله نمودند که گویا در ظرف یک هفته سر اسر افغانستان را فتح و از خود سازند با وجود مصلحت غلامان آنها از بزرگترین و منحرب ترین بم های قوی بالای مردم افغانستان دریغ نکردند از کشته ها پشته ها گذاشتن غلامان آنها فرفرک وار در قپیدن کرسی ها شتاب زده و دیوانه وار افتادن مظالم اجتماعتی از قبیل کشتن به زندان افگندن چور و چپاول نمودن جزء کار روزانه خویش ساختند که تا کنون ادامه دارد.

لیکن شیران غران و عقبان بلند پرواز با یک تاکتیک. نظامی فوق العاده دوباره خود آماده جنگ با کافران و یهودیان نمودند و آرزوی پلید یک هفته کی ۴۸ کشور را نقش بر آب ساخته و ناکامی ابدی را دچار آنها گردانید.

زعماء و کشور هایکه افغان را شناخته اند آهسته آهسته در صدد آن میباشند تا افراد و صاحب منصبان خویش را حد اقل زنده ازین سرزمین بکشند و تحمل را درین مورد نمی پذیرند ازین جمله یکی هم کشور فرانسه است که نیروهایش را از افغانستان کشیده و ختم وظیفه اش را رسماً اعلان نموده جهانیان را ازین اشتباه بزرگ باخبر گردانید امیدواریم تمام کشورهای اشغالگر و درگیر در قضایا ذات النبی افغانها از اقدام نیک فرانسوی ها انتباه نیک برداشت نموده این وطن غرقه بخون را رها سازند تا افغانها در بین خود حل و فصل قضایا نمایند

رئیس جمهور جدید فرانسه قبل از انتخابات اش به کرسی ریاست جمهوری فرانسه چون از رویداد های این جنگ نابرابر و تلفات فرانسویان آگاهی داشته بمردم فرانسه اعلان نموده و اطمنان داد در صورت موفقیت در انتخابات عساکرش را از افغان می خواهد مردم فرانسه از اعلان او اظهار خوشی و سپاس نمود و شاید هم یکی از عوامل کامیابی موصوف در انتخابات این موضوع باشد.

رئیس جمهور به قول خود وفانموده در کشیدن افراد و صاحب منصبانش آغاز نمود روزنامه وزین شهادت در اخبار روز چهار شنبه مورخ اول قوس ۱۳۹۱ مطابق به ۲۱ نوامبر ۲۰۱۲ در ارتباط به این موضوع چنین گفته است (فرانسی په افغانستان کي د خپل ماموریت پای رسماً اعلان کړ) و این اقدام عاقلانه و انسانی خود را به جهانیان ثابت ساخت.

واقعیت تاریخ است که در برابر افغانان آزاد و آزادیخوا و استقلال طلب هیچکشوری در هیچ زمانی تاب مقاومت را نیآورده سر انجام با دست و پاه شکسته و گریبان دریده و روان مالیخوالیائی این سرزمین را ترک گفته اند. این خواص و خصلت افغانهای را که تسلط غیر را بر خود قبولدار نمی شود از یاد نبرد نادیده گرفتن آن حماقت است.

دوازده سال قبل از امروز انگلیس ها و امریکائی ها با متحدین خود چنان با تکبر و غرور بالای این خاک اولیاء حمله نمودند که گویا در ظرف یک هفته سر اسر افغانستان را فتح و از خود سازند با وجود مصلحت غلامان آنها از بزرگترین و منحرب ترین بم های قوی بالای مردم افغانستان دریغ نکردند از کشته ها پشته ها گذاشتن غلامان آنها فرفرک وار در قپیدن کرسی ها شتاب زده و دیوانه وار افتادن مظالم اجتماعتی از قبیل کشتن به زندان افگندن چور و چپاول نمودن جزء کار روزانه خویش ساختند که تا کنون ادامه دارد.

لیکن شیران غران و عقبان بلند پرواز با یک تاکتیک. نظامی فوق العاده دوباره خود آماده جنگ با کافران و یهودیان نمودند و آرزوی پلید یک هفته کی ۴۸ کشور را نقش بر آب ساخته و ناکامی ابدی را دچار آنها گردانید.

زعماء و کشور هایکه افغان را شناخته اند آهسته آهسته در صدد آن میباشند تا افراد و صاحب منصبان خویش را حد اقل زنده ازین سرزمین بکشند و تحمل را درین مورد نمی پذیرند ازین جمله یکی هم کشور فرانسه است که نیروهایش را از افغانستان کشیده و ختم وظیفه اش را رسماً اعلان نموده جهانیان را ازین اشتباه بزرگ باخبر گردانید امیدواریم تمام کشورهای اشغالگر و درگیر در قضایا ذات النبی افغانها از اقدام نیک فرانسوی ها انتباه نیک برداشت نموده این وطن غرقه بخون را رها سازند تا افغانها در بین خود حل و فصل قضایا نمایند

ملي امنيت په ځان ساتنه کې هم يوګام وروسته

سيد سعيد

په کابل کي داستخباراتوپرلوی رئيس اسدالله خالداومشورتي ټيم يې بريداودنوموړي دشديدټپې کيدوترڅنګ ددغه رياست دمشاوروينواومهمو کارکونکومرګ ژوبله دکرزي رژيم ته ډيره لويه ننګونه ده . ځکه دهغي ادارې چي دملت ساتني ټټروهي خپل مهم کارکونکي اوأن لوی رئيس خوندي نه وي ،نودرژيم دنوروارګانونواوچارواکوبه څه حال وي .په هرصورت دکرزي پرامنيت ملي اولوي رئيس يې بريدهغه نادره ده چي په نړۍ کي ښايې په ورته حالاتوکي سابقه ونه لري ،ځکه دلته عادي حکومتي چاري دسميټي پريږوديوالونواواغزنوسيمونوشاته ترسره کيږي ،ددغه رياست مرکزي څانګي اودمشرتابه دفترته ورتګ خوبيخي ګران کاردی . داوس لپاره دهغوپوښتنواوننګونوڅخه تيريږوچي يادشوی رژيم ورسره لاس اوګريوان دی صرف ددغه بدنام رياست کړچارته لږتم کيږو؛

په افغانستان کي چي دملي امنيت په نامه کومه اداره فعاليت کوي دخير کارنه دی ليدل شوی ،علاوه پردې وخت په وخت يې دپرديوسره په ملي منافعوسوداکړې اودملت په لسهاووزره رښتوني بچيان يې دتوروخاورو ميلمانه کړي دي .دملي امنيت (خاد، کام)تثبيت شوي اومستندي بشراوملت ضدکړني دثوردکودتاه څخه پيليږي ، کودتاچيانو(خلقيانواوپرچميانو)داشراروپه نامه هرهغه افغان ددغي ادارې وکرغيړني غيږي ته سپاره ،چي پريوخدای جل جلاله اودهغه پروروستي پيغمبر (حضرت محمدصلی الله عليه وسلم)به يې ايمان درلوداودليلن اوسټالين بوينه تيوري به يې نه منله . کودتاچيانودخپلي واکمنۍ په کلونوکي دخادرياست ته مختلف کسان وګومارل چي مشهورپه کي دکمونيسټي رژيم وروستی واکمن

ډاکټر نجیب ؤ، نومورې دخپل ولس دومره سر سخته دښمن ؤچې په لنډه موده کې یې په دغه اداره کې پر شپېته زره افغانانو ظلم اوبربریت میچنې وچلولې. چې ځینې یې په نیمژوانده حالت کې لاس وپښې ترلې مسکوه ته حواله کړل اویوزیات شمېر یې دځر خې پله په شاوخوا دښتو، دې سبز پلیګون او... کې په ډله ییزه توګه شهیدان کړل، چې ترننه یې هم کورنیو ته دمرګ اوژوندحال نه دی معلوم، دغه رنګه دهمدې اداړې په اړونده ولایتي محبسونو کې به هم هره ورځ انسانان قصابي کیدل اوپه بیلوبیلوډولونو به په غیر انساني توګه شکنجه کیدل چې په یادولوپې دانسانیت زړونه پرسیږي اوله ستر ګوپې اوښکې تویږي.

په پورته کربنو کې خودمار کسیزم دتالې څټو دوحشت داستان ؤ. د ۲۰۰۱ز، راهیسې امپریالیستانواوچاکرانو یې په افغانستان کې د کمونستانووحشت بیاتازه کړ: دبشري حقونود دفاع په مقصد !! یې بشریت تحقیراو تذلیل کړ، کیمیاوي اوبیلوژیکي وسلې یې پرې استعمال کړې، دخپلووسلواوپوځیانوپه تمرینانواوعملیاتو کې یې بنځې اوماشومان شهیدان کړل، کلي اوحاصلخیزه مځکې یې دتوروخاورسره برابري کړې. په لسهاوونوي تعذیبځایونه یې جوړ کړل، حتی نوي کلن بوډاګان، اته کلن ماشومان اومیرمنې یې په کې بندیاني کړې، لنډه داچې غربي پرغلګرو دمدنیت په نوم ځنګلي قانون حاکم کړ چې مجبورابه خلګ ددې ځناورو حکم مني. کنه نونیول، ځوروول، بې عزته کول اووژل یې دانتهاپسندۍ مخنیوی ګڼل کیږي. دیرغلګرودزندانونوسره دملي امنیت په نوم اداړې هم اوږه په اوږه افغان ولس روحااوجسماوځاپه.

دامریکایې نیواک راهیسې ددې اداړې په رأس کې امرالله صالح، رحمت الله نبیل اواسدالله خالدنصب شوي دي، دوی هریوه یې سي آي اې (sia) ته دفاداري ثابتولواوډالري کځوروترلاسه کولوپه موخه له خپل ولس سره په نارواچلند کې جایزې اخیستې دي. بیلابیلوبشري سازمانونوددغې اداړې دظلمونواووحشت داسې اسنادورانديږ کړې چې دسیاسي اوجنګي اسیرانوسره دجینواکنوانسیون خلاف څه چې دانسانیت ضدعمل په څرګنده بڼې.

خالدچې ترډې وړاندې دغزني او کندهار دوالي اودسرحداتودنامنل شوي وزیرپه توګه دندې اجراکړې، ترډیره ولس ترې بې زاره اواشغالګر ځني خوښ پاته شوي دي. دبشري حقونودراپورونوپه استنادخالدپه کندهار کې دولایت پرمهال

شخصي زندانونه درلودل چي دسياسي اوجنګي بنديانوسره په کي په لوړه کچه ناوړه چلند کيده ،حتي يوشمېر اسيرانودشکنجوله امله خپل ژوندله لاسه ورکړی دی . اوس چي خالددامنيت ملي رئيس وټاکل شو نوهم بشرپالوسازمانونوددې تېرمهال ته په پام اندېښنه وښوده چي سياسي اوجنګي بنديان به کړوي اودوهلواوبرېښنايي شاړتونوپه مټ به اقرار ترې اخلي .په کابل کي دوروستيواعدامونوپه تېره دسياسي اسيرانوهغه په اړه هم ويل کيږي چي دوسيې يې دجبري اعترافاتوپربنسټ تياري شوي اوبياپه اعدام محکوم شوي دي .

په واقعيت کي په دغه اداره کي تر ډيره حده هغه ملي جنايتکاران اوسيږي چي په يوه پيماله شرابوهيواداوناموس پلوري ،هغوی چي پرون يې دکرملين واکمنو ته سرټيټاوه اونن يې بياسپينه مانۍ قبله ګرځولې ده ،مخکي کي يې داشرارې نامه دولس بچيان چارماري کول اواوس بيادترهګرې نوم داسلام اوهيوادځغه دفاع کونکي شکنجه کوي اوپه شهادت رسوي . که يې رالنده کړونودنوري نړۍ پر خلاف دلته دې اداري نه ملي منافع ساتلي ،نه يې دخپلوخلګوامنيت تامين کړی اونه يې هم دپرديويرغلونومخه نيولې ده .دوی ديرغلګرومللاوي ورتړلې اوخپل ولس يې ورته راچپه کړی دی ،ددوی ټول تمرکزله لوي رئيس څخه تريوادني مأمورپوري دښکېلاک دپايښت په موخه دخپلوخلګووهل – ټکول اووژل دي .

ددغي اداري مشر تابه اوکار کونکي دومره نااهله دي چي دهيواداوولس دساتني هيله خوڅوک ترې نه کوي ،دکابل رژيم يې هم نه دی ساتلی ،په غازي لوبغالي کي داستقلال دجشن پر مراسمودطالبانوبريد ،دولسمشرۍ مانۍ څنګ کي پر سرينا(کابل)هوټل ،عدليې وزارت ،انټر کانټينينټل هوټل ،دامريکې پرلوی سفارت ،دناټوپر قوماندانۍ آن ددغه رياست پرلوی مرکزبريدونه يې نه تنهاشندنه کړای شوای ،بلکي مجاهدين وتوانيدل چي په شاوخوا زنو ډغري ورسره ووهي ،حتي تردې چي اوس يې ددې اداري پرلوی رئيس (اسدالله خالد) اولوړپوړو کامندانوحمله وکړه

مولوي میرزا محمد شکیب

د جهاد علمبردار

ابو طلحة الانصاري رضي الله عنه

حضرت زید بن سهیل رضی الله تعالی عنه چې د نجار د قبیلې و او په ابوطلح ه سره یې شهرت درلود، نوموړي ته خبر ورسید چې «رمیصاء» د «ملحان» لور د نجار قبیلې اوپه اُم سلیم سره شهرت لري کونډه شوې، د دې خبر په اوریدو سره د نوموړي زړه له خوشحالي څخه باغ باغ شو ،داهیڅ د حیرانتیا وړ خبره نه وه ځکه اُم سلیم سردار ه، نیکه خویه، ځیر که او دښو خویونو څښتنه وه.

نوموړي هڅه وکړه چې تر هرچا وړاندي اُم سلیم ته د نکاح پیغام وراندي کړي او ابوطلحه یې په دې باوري وچې اُم سلیم به تر ده بل چاته د لومړیتوب حق ورنه کړي ځکه ابوطحه نښه میړه، دلوړ ې درجې څښتن او د ښو شتو خاوند ؤ... اونه دې سره سره د نجار د قبیلې یو پیاوړي سپور او د یشرب له ځانګړو ویشتونکو څخه یو وتلی ویشتونکی ؤ.

حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه د اُم سلیم د کور په لور روان شو خو د لاري په اوږد کي داوړه زړه شوه چې ام سلیم خو د مکې د یوه بلونکي «معصب بن عمیر» په بلنه اسلام منلی او پر محمد ﷺ یې ایمان راوړی او د ده د دین له پیروانو څخه ګرځیدلې ده، خو بیرته په زړه کي ور وګرځېده چې کیدای شي دابه هیڅ خبره نه وي ځکه د نوموړي لومړی میړه هم د خپلو پرو نو پر دین پاته اوله حضرت محمد ﷺ او د ده له بلن ې لیري اوسیدی.

حضرت ابوطلحه رضی الله عنه د ام سلیم کور ته ورغی، اجازه یې وغوښته نوموړي هم اجازه ورکړه ، د دې زوی «حضرت انس» هم حاضر و، حضرت ابوطلحه رضی الله عنه د نکاح وړاندیز ورته وکړ، ام سلیم ورته وویل: اې اباطلحة! ستا په څیر خل ک د ځوابولو وړ نه دي خو زه له دې امله ستا سره نکاح نه کوم چې ته کافر او زه مسلمانه یم.

حضرت ابوطلحه ګمان وکړ کیدای شي ام سلیم هسي بهانې لټوي، تر ما به یې بل ډیر شتمن او ډیر ځواکمن شخص موندلی وي ، نو حضرت ابوطلحه ورته وویل: قسم په خدای ﷻ که داخبره د دې ورتیالري چې تا دې له ما ایساره کړې؟ تا تر ما بل ډیر شتمن او د سړو څښتن موندلی دی.

ام سلیم رضی الله تعالی عنها: سپین او سره زر ما ایسار وي؟!

ابوطلحه رضی الله تعالی عنه وویل: هو!

ام سلیم رضی الله تعالی عنهاوویل: ی ابوطلحه ! داسې خبره نه ده. زه تا، خدای ﷻ او د خدای ﷻ رسول ﷺ ګواهان ګرځوم که ته چیرته اسلام راوړې زه له تاسره په نکاح خوښه ي م سره او سپین نه درځخه غواړم او ستا اسلام مهر «ولور» بولم...

حضرت ابوطلحه چې څنګه د اُم سلیم خبرې واوریدې سمدستي يې په ذهن کې هغه بُت ور وګرځید چې خاص د خپل ځان لپاره يې له ډیرو لوړپیه لرګیو څخه جوړ کړی ؤ، داد دوی د قوم د سردارانو رواج و.

ام سلیم رضی الله تعالی عنهاعزم وکړ چې اوسپنه ګرمه وي باید وټکول شي اوله موقع څخه باید ګټه واخیستله شي، حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنهاپسې زیاته کړه: ا ی بلطلحه ! ته نه يې خبر چې ستا هغه خدای چې ته يې عبادت کوې له ځمکې راشین شو ی؟

نومورې ورته وویل: هو! زه خبر یم.

حضرت اُم سلیم وویں: نوتاته ولي شرم نه درېږي چې ته د یو داسې درختي د «تنې» بندګي کوې چې نیمایي يې تا د ځان لپاره خدای ګرځولی عبادت يې کوې اوپاته برخه يې بیا نورو د ځان لپاره پیلوځي ګرځولې ځانو ته اورونه پرې بلوي اویا ځپلې ډوډۍ ورباندې پخوي... ای حضرت ابوطلحه ! که چیرې ته اسلام راوړې ته زما خوښې يې له اسلامه پرته نور مهر نه درځخه غواړم.

حضرت ابوطلحه وویل: ماته به اسلام څوک راوښیي؟

ام سلیم رضی الله تعالی عنهاورته وویل: زه به يې دروښیم.

حضرت ابوطلحه: څنګه دی؟

ام سلیم رضی الله تعالی عنها: یو دا کلمه چې «اشهد ان لااله الاالله وان محمداً رسول الله» ووایه بیا کورته ولاړشه اوخپل بُت توتې، توتې کړه او ویې غور ځوه.

د ابوطلحه دمخ ګونجي له ډیرې خوښۍ څخه وغوړیدې او ویې ویل: «اشهد ان لااله الاالله وان محمداً رسول الله »له دې سره سم ام سلیم نکاح ورسره وکړه.

مسلمانانو به ویل: مور د ام سلیم د مهر پرته بل دومره عزتمند مهر نه دی اوریدلی ځکه نومورې د ځان مهر اسلام وټاکه.. له همدې ورځې څخه ابوطلحه د اسلام تربیرغ لاندې روان اوخپل ټول ځواک يې د اسلام په لار کې صرف کړ.

نومورې یوله هغه کسانوڅ خ ه ؤ چې له رسول الله ﷺ سره يې بیعة العقبه په داسې حال کې وکړ چې خپله میرمن «ام سلیم رضی الله تعالی عنه» هم ورسره وه، یو له هغو دوولسو مشرانوڅخه ؤ چې د بیعة العقبه په شپه رسول الله ﷺ د یثرب پر مسلمانانو وټاکل، له دې وروسته نومورې له رسول الله ﷺ سره په ټولو غزاګانو کې

شتون درلود ، په هره غزا کې يې ښه ميړانه ښکاره کړې او توري بريښولي دي، خو تر ټولو ستره او د يادولو وړ ورځ يې د أحد سخته ورځ وه . په دې اړه دا لاندې کيسه واورئ : حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه له رسول الله ﷺ سره دومره مينه درلوده چې د زړه تل ته يې رسيدلې وه او د ده مينه يې لکه وينه په رګو کې جاري وه، حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه نه د نبي کريم ﷺ په ديد ن مړې ده اونه يې د ده په خوږو خبرو تنده ماتيده، زما روح دي ستا تر روح ځار او زمامخ دي ستا د بلا مخ ې ته ودريږي

کله چې د أحد ورځ راغله، خلک د نبي کريم ﷺ له ش وخوا څخه وتښتيدل او مشرکان د ده لور ته راپه منډه وو، د نبي کريم ﷺ «رباعي» غاښونه يې مات، تندی يې ور زخمي، شونډه يې ور خوږ او پر مخ يې ويني وبهيدلې... آن چې اټکل کوونکو اټکل کاوه چې حضرت محمد ﷺ شهيد شو، د دې خبرې په اوريدلو سره مسلمانان ډير ضعيف شول او د خدای ﷻ دښمنانو ته يې شا ور وګرځوله، له حضرت محمد ﷺ سره پرته له څو کسانو چې حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه د هغو په کتار کې و نور هيڅوک هم پاته نه شول، حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه د نبي کريم ﷺ په وړاندې لکه غر ودريد او نبي کريم ﷺ د ده له شا ودريد او له ده څخه يې د ډال کار واخيست، حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه هم خپله هغه لينده برابره کړه چې نه ماتيده او هغه غشي يې په کښې کښيښودل چې نه خطا کيدل او له رسول الله ﷺ څخه يې يه دې سره دفاع کوله او د مشرکينو لښکريان يې يو په بل پسې ويشتل .

نبي کريم ﷺ د ابوطلحه رضی الله تعالی عنه له شا غاړه اوږده کړه چې د نوموړي د غشي هدف ووينې، حضرت ابوطلحه رضی تعالی عنه ورته وويل : زما مور او پلار دي تر تا ځار وي ، مه ګوره وبه دي ولي، زما غاړه ستا تر غاړي، زما سينه دي ستا تر سينې او زه دي تر تا ځاريم.... کله چې به د مسلمانانو د لښکر يو غړی پر نبي کريم ﷺ تيريدی او دغشو کڅوڼه به ورسره وه ،نبی کريم ﷺ به ورباندې ږغ کړ : د خپلو غشو کڅوڼه دي د حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه مخ ته تشه کړه او له ځانه سره يې مه تښتوه. حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه له نبي کريم ﷺ څخه داسې دفاع وکړه چې درې ليندې يې ماتې ک ړې او د مشرکينو د لښکر يې ښه بې شميره وګړي ووژل، وروسته جګړه پای ته ورسيده او نبي کريم ﷺ لوی څښتن د ده په ساتنه سره وساتی.

لکه څرنګه چې ابوطلحه رضی الله تعالی عنه د جنګ په ډګر کې د ځان په قرباني پياوړی و، همدا راز د ورکړي په ځايو کې د مال په ورکړه هم زيات پياوړی و... په همدې اړه د سيرت کتابونه د ده په اړه يوه کيسه راوړي : په مدينه کې د حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی يو د خرما او انګورو داسې باغ وُ چې په ټوله مدينه کې د ده په څيرلوی، د خوږو اوبو او ښو ميوو څښتن بل باغ نه و.

يوه ورځ په دې باغ کې تر يوه سړه سيورې لاندې نوموړي لمونځ کاوه، يو مرغه يې وليد چې تک شين رنګ، سره مښوکه او سرې پښې يې درلودې د ونې پر ښاخونو يې له ډيرې خوښۍ او مستۍ څخه ټوپونه وهل، له نوموړي څخه د دې مرغه مستيو زړه يووړ او فکر يې په بله شو، کله چې يې بيرته لمونځ ته فکر شو؛ نو دا ور څخه هير شو چې څو رکعته لمونځ

يې کړی؟! کله به يې ويل: دوه رکعته ... او کله به يې درې رکعته پر زړه کړځيدل. کله چې له لمانځه څخه وزګار شو سمدستي نبي کريم ﷺ ته ورغی له خپله ځانه يې شکايت «سرټکونه» ورته وکړ او د باغ، دونواو شنه مرغه د مستيو ننداره يې ورته واورواله اوله دې سره يې ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! ته ګواه يې چې زه دا باغ د خدای ﷻ په لار کې خيراتوم... په داسې ځای کې يې مصرف کړه چې خدای ﷻ او د ده رسول الله ﷺ پرې خوښ وي.

حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه خپل ټول ژوند په جهاد او روژه تير کړ او مرګ يې هم په دغه کار کې شو، د نوموړي په اړه ويل کيږي چې د نبي کريم ﷺ له وفات وروسته ديرش کاله ژوندی ؤ خوپه دې دومره اوږده موده ژوند کې يې له ،خترونو پرته تل روژه وه، د خپل اوږده ژوند له امله سپين ږيری آن چې شيخ فاني شو خوسپين ږيرتوب نوموړی له مسلسل جهاد او دخدای ﷻ په لار کې د کړ کيچنو لاروله سفر ځخه ايسار نه کړ او تل به يې دخدای ﷻ د کلمې د لوړ والي لپاره او د دين دعزت په خاطر جهادونه کول.

د حضرت عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه دخلافت په دوره کې يوه ورځ مسلمانان په درياب کې ديوې غز لپاره تيريدل، حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه هم دخپل لومړني عادت په څير د جهاد په تياري بوخت شو زامنو يې ورته وويل: اې پلاره! لوی خدای ﷻ دي رحم درباندې وکړي تا له حضرت محمد ﷺ، ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهم سره غزاوې وکړې اوس سپين ږيری يې کاشکې کښينستلی وای او موږ دي پرې ايښې وای چې جهاد مو کړی وای، حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی وويل: لوی څښتن فرمايلي: «انفروا خفافا وثقالا».

لوی څښتن ﷻ له موږ ټولو څخه داغواړي چې د ده په لار کې جهاد وکړو.... ځوانان وي اوکه سپين ږيری، موږ ته يې دعمر په خاطر څه تاکلی سرحد نه دی په ګوته کړی زه به هرومرو جهاد ته ځم...

کله چې د مسلمانانو لښکر په کښتيو کې د درياب منځ ته ورسيد ، داوږد عمر څښتن حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه سخت رنځور شو او د هغه رنځ له امله يې د درياب په منځ کې خپله ساه له لاسه ورکړه .

کله چې نوموړی وفات شو مسلمانانو ډيره هڅه وکړه چې يوه جزيره ومومي او نوموړی خاورو ته وسپاري خو دوي په دې لټه کې له او وو ورځو وروسته پر خپل هدف بريالي شول . د دې او وو ورځو په اوږدو کې حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه د دوی په منځ کې داسې پروت ؤ لکه ويده ، هيڅ تغير يې هم ونه کړ ،اووه ورځ پې وروسته يې حضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه له خپل کور، کلي او ټاټوبي څخه ليرې د اوبو په منځ کې ښخ کړ ، له خلګو ليرې والي به ده ته څه تاوان ورسوي ؟ چې لوی خدای ﷻ ته نژدې وي.

له صور من حياة الصحابة نومي کتاب څخه

(مفتي ابو ماريه)

دمورچل دارُالاِفتاء

که دکورونو سپي مجاهدين وداړي يايې زخميان کړي ؟

الاستفتاء : زيدوايې: کوچيانو په لارو کې اړولي وي ، مجاهدين په لاروتيريږي،ددوئ سپي خلاص وي ،چې ډير ځله مجاهدين داړي ،زخميان يې کړي ،نواوس مجاهدينو ته رواده چې دغه سپي په دغه مهال په ډزو ووژنو ؟ ، او دزخميانو تاوان ځيني اخستلی شي اوکنه ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: هوکه مجاهدين په لاره تيريد ل اودغه سپو داړل ، يايې خوړول اوبله لاره نه وه نومجاهدين کولی شي چې دغه سپي ووژني ، اوکه چيري دغه سپي مجاهدينو ته تاوان ورسوي مثلا موټرسايکل ورخراب کړي يادوې زخميان کړي نو که چيري مجاهدينو وړاندي د ې کوچيانوته خبرورکړي ؤ چې سپي مو دروګرزوئ ،مجاهدين خوري او هغوئ نه ؤ ګرزولي نواوس دمجاهدينوتاوان ځيني کيږي.

اوکه يې وړاندي دغه خبرنه ؤ ورکړی نوبيايې تاوان نه ځيني کيږي .

لما روى البخاري برقم 1829 ومسلم 1198 عن عَائِشَةَ رضي الله عنها قالت: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: أَرْبَعٌ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ: الْحَدَأَةُ وَالْغُرَابُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ.

وفي تكملة ردالمحتار ١٢٧\١١أقول: الذي في البزازية: له كلب عقور كلما مر عليه مار عضه لاهل القرية أن يقتلوه، وإن عض إنسانا فقتله: فإن قبل التقدم إليه فلا ضمان. وإن بعده عليه الضمان كالحائط قبل الاشهاد وبعده. وفي المنية في مسألة نطح الثور: يضمن بعد الاشهاد النفس والمال اه.

وفي تبيين الحقائق ٤٩٨\١٧ باب جناية البهيمة : ولو كان لرجل كلب عقور يؤذي من مر به فلأهل البلد أن يقتلوه وإن أتلف يجب على صاحبه الضمان إن كان تقدم إليه قبل الإتلاف وإلا فلا شيء عليه كالحائط المائل

وفي البحر وفي الخلاصة ولو كان لرجل كلب عقور يؤذي من مر به فلأهل البلد أن يقتلوه ، وإن أتلف شيئا على صاحبه الضمان إن كان تقدم إليه قبل الإتلاف وإلا فلا شيء عليه كالحائط المائل

ومثله في مجمع الضمانات ١٣\٤ الفصل الخامس فى جناية البهيمة .

وفي ردالمحتار ١٠\٢٨٩ كأنه فهم من كلام الدرر أنه لا يضمن في الكلب غير الآدمي ، وهذا غير مراد وإنما معنى كلامه أن ما يخاف منه تلف الآدمي فالإشهاد فيه موجب للضمان إذا أعقبه تلف ، سواء كان المتلف مالا أو آدميا وما لا يخاف منه تلف الآدمي بل يخاف منه تلف المال فقط كعنب الكروم ، فلا يفيد فيه الإشهاد ، ويدل عليه تشبيهه بالحائط المائل ، فإن الإشهاد فيه موجب لضمان المال والنفس اهـ رملي وهو كلام حسن دافع للمخالفة من أصلها فيحمل كلام الزيلعي على الإتلاف مطلقا ؛ لأن المراد بالكلب الواقع في كلامه الكلب العقور كما صرح به ، فهو مما يخاف منه تلف الآدمي كالحائط المائل والثور النطوح ، بخلاف كلب العنب.

قلت: وهذا كله مخالف لما قدمه الشارح في آخر باب القود فيما دون النفس عن القاضي بديع أن الإشهاد لا يكون إلا في الحائط لا في الحيوان اهـ.

وقد أفتى في الخيرية بالضمان بعد الإشهاد في حصان اعتاد الكدم وكذا في ثور نطوح قال وفي البزازية عن المنية في نطح الثور يضمن بعد الإشهاد النفس والمال اهـ وفي المسألة خلاف والأكثر على الضمان كالحائط المائل اهـ وأفتى به في الحامدية أيضا

كذا فى معين الحكام ص\ ٢٣١

وخلاصة الفتاوى ٢٥٥\٤ كتاب الديات

دامیراودلګی مشر اوصاف ؟

الاستفتاء: دلګی مشر یا دجبهي امیر باید کوم صفات ولري ؟ بینوا توجروا جزاکم الله. نعمان خبیر.

الجواب حامداومصلیا وبعد : دلګی مشر یاامیرالجیش باید دالاندي صفات ولری:

۱- چې دهمدي مشرتوب صلاحیت ولري.

۲- چې دجنګ اوجهاد په تاکتیکونو ،تدبیرونو اوکړنلارو ښه پوهیږی ،

۳- پرهیزګار اومتقي انسان به وي.

۴- په مجاهدینو اوملګرو به شفیق اومهربان وي.

۵- سخي ،اوځوانمرده به وي ، بخیل اودمال حریص به نه وي.

۶- غیرتمند ،اوشجاع به وي ، بزدل اوکمزوری به نه وي.

اوکه چیري داوړاندیني صفات ټول نه وو په کې موجود ، اوحالات هم اضطراري وو نوبیا که یوتن په ظاهره تقوا نه لری مګر دجنګ په تدابیرو ښه پوهیږی داسي تن دي امیرکړي که څه هم ظاهره فاسق غوندي وي.

إذابعث جیشا ینبغی ان یؤمر علیهم امیرا وإنما یؤمرعلیهم من یکون صالحا لذلک بان یکون حسن التدبیر فی امر الحرب ورعا , مشفقا علیهم سخیا شجاعا الخ هندیه ۱۹۳.۲

و ان لم یوجد رجل جامع للاوصاف المذکورة فللامام ان یؤمر علي الجیش من کان خبیرا بامور الجیش ماهرا فیه احسین التدبیر کما فی الخانیة بهامش الهندیه ۳-۵۲۸ فی فصل فیمن یجلس لامارة الجیش -ینبغی للامام ان یؤمرعلي الجیش من کان خبیرا بامورالحرب وتدبیرها کان من العرب اوالموالی ومثله فی اله ندیه ۱۹۲.۲ وفیه ایضا : ویجوزان یولی الامام الفاسق اذا کان له تدبیر فی امر الحرب کذا فی العتابیه -ورد المحتار ۲۵۲.۳ رشیدیه

دیرغلګرو داحترام حکم دی

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب که یوه کلي ته یرغلګر ورشي اودکلي خل ک دهغوئ احترام وکړي ، څه حکم یې دی ؟ شیرعلي فیض

الجواب حامدا ومصليا وبعد:دمومن شان ډيرلوړ دی ، هغه کله هم کافر اوبالخصوص يرغلګرو ته احترام نه لري ،بلکه مؤمنان به يرغلګر ترټولو ستر دښمن ګڼي ، هم به يې په زړه کې بد بولي ، اوهم به په ظاهره له هغه څخه کرکه کوي ، اوکه يې وس ه پري وشې نوچې هرڅای يې ومومي وژني به يې .

اوکه خدای مکړه يوداسې بې غيرته کس پيدا شې چې هغه ديرغلګر کافراحترام کوي ، نودغه کس ګنهګار دی ، حتی مجاهدين تعزير هم ورکولی شې.

قال الله تعالى: وَلَنْ يَجْعَلَ اللهُ لِلكافِرِينَ عَلى المُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (141)النساء

وقال الله تعالى: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللهِ وَرِضْوَانًا . الفتح ٢٩

وفي شرح فقه الاكبر ١٩٤ والتواضع لغير الله حرام ای اذلال النفس لنيل الدنيا الخ

وفي ردالمحتار ٥\ ٢٩٢ ولو سلم على الذمي تبجيلا يكفر لان تبجيل الكافر كفر ، ولو قال لمجوسي يا استاذ تبجيلا كفر الخ

په بنديانو باندي کار کول ؟

الاسفتاء : محترم مفتي صاحب . په بندي باندي کار کول څرنګه دي ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: په بنديانو باندي کار کول ، هغوئ ته يو تعذيب ورکول دي ، چې دابيله سزا جوړيږي اوبندي ته دقاضي له لوري څخه دمشخص قيد ياتعزير څخه علاوه نور سزا ورکول مناسب نه دي.

في ردالمحتار ٤\ ٣٤٩ لاينبغي للقضي ان يضرب محبوسا في دين ولاغيره ولايصفد ولايقيد ولايغل ولايمد ولايقيمه في الشمس الخ .

ومثله في الهنديه ٣\ ٤١٤

وخلاصة الفتاوى ٤\ ٤٥

انجلونا څنګه فاطمه عبدالله شوه

حسن زوی

په زړه پورې جریان

ځه دایټالوي مور اوپلار نه پیدا اوپه یوې متعصبې عیسوي کورنۍ کې مې سترګې غړولی وې، ابتدائي زدکړې مې دخپل ښار جنېوا په مختلفو ښوونځو کې ترسره کړې اوبیاځه دخپلی کورنۍ سره روم ته لاړم اوهورې دهنرونواورسامۍ په اکادمۍ کې شامله شوم اوهمدلته دخپل زیات ښایست له امله دخلکو زیاته توجو ځانته راجلب کړه، د نامتو رسامانو درسامیوو په نندار تونو نو کې راته د کار کولو ډېر چانسونه راپه برخه شول، ماپه لږې مودې کې زیات شهرت ترلاسه کړ اوورو ورو ځه دسترو تجارتي شرکتونو نمایش ګره شوم.

ماخپلې زدکړې هم روانې وساتلی، پیسې مې هم ګټلې اوشهرت مې هم ورځ تر بلې زیاتېدو تردې چې په فلمونو کې دکار کولو غوښتنی راځنی شروع شوې، زمازدکړې پشپړی شوې وې نودفلم په ډګر کې مې په داسې حال کې قدم کېښودلو چې ځه ور ته پوره فارغه وم، ماښه کوښښ وکړ اوښه ډېر شهرت او پیسې مې ترلاسه کړې، دلته زمایواځینی ارمان داو چې دایټالیا پر سینما باداري وکړم او ټول فلمي ستوري له ځانه شاته کړم چې تر ډېره حده پکې مابریالیتوب هم ترلاسه کړ او دایټالیا تر ټولو وتلي ستوري بیټروجراس سره مې هم اوږه په اوږه په ځینو فلمونو کې کار وکړ.

زماژوند دایټالیا دسینما په پردو دشهرت، مال ګټلو او دنیوي عزت ترسیوری لاندی تېرېدلو اوله دې ور اخوامې هیڅ کوم عالي هدف مخې ته نه وو.

په دوهم نړیوال جنګ فلم جوړېدلو او د اساسي ونډې دادا کولولپاره پکې زما انتخاب شوی و، ما پدې فلم کې دکار کولولپاره خپل رضایت ښکاره، پدې اړه مې تړون امضاکړ او دګڼو نورو فلمي ستورو سره یوځای دمصر مشهور ښار ((مرسی مطروح)) ته ځکه چې دیاد فلم دیوې برخې دجوړېدو لپاره داښار انتخاب شوی و.

په نومورې بنار کې یوځل څه دځه کار لپاره دسرک عارې ته ودرېدم. ناڅاپه مې په څه خلکو نظر شو، دوئ ټول یوې بنکلې داسې ودانۍ ته ننوتل چې لویه دروازه یې لرله او د دروازې نه بېرون به هر یو خپل بوټان ویستل او چې ودانۍ ته به ورننوتل نو ځانګړي حرکات به یې پیل کړل. ما دوئ ته ډېر په غور غور وکتل خو پوه نه شوم چې دوئ څه کوي؟ نوځکه دموټر نه ورښکته او ودانۍ ته ورننوتم، ومې لیدل چې خلک په صفونو کې ډېر منظم ولاړ دي اوهر نوی تن چې راځي په ډېری عاجزۍ او انکساری په صفونو کې ورشاملېږي. مخې ته یې یو تن ولاړ دی دهغه په اواز ښکته کېږي، په ځمکه سرونه ګډي او په اوازې ېږ ته راپور ته کېږي. څه دوئ ته حیرانه ولاړه وم اوپه زړه کې مې همدا خبره ګرځېدله چې د دوئ دا شیبې به څومره داطمینان نه ډکې وي؟! هسې ماته هم دلته دومره اطمینان اوسکون راپه برخه شوی و چې په خپل عمر مې نه ولېدلی. دلته راغلوسره و کې هیڅاهم زمالور ته ستر ګې نه راپور ته کولی حال داچې بنار کې به چې څه ګرځېدم سره به راته نېغ نېغ راکتل. بیرون یو تن چې ورسره په ژبه پوهېدم ورنه مې وپوښتل چې داخلک څوک دي اوڅه کوي؟ هغه راته وویل چې داودانۍ دمسلمانانو عبادت خانه ده مسجد ورته وایې، ورته راغلي ټول وګړي مسلمانان دي چې دخپل رب عبادت یې کولو.

دا رومبی ځل و چې مامسجد اوپکې مې دمختلفو رنګونو، عمرونو، لباسونو او درجوخلک په صف کې ولاړ ولیدل.

څه ددې پاکو اوحیانه ډکو څېرو او د دوئ دعبادت دې زړه راښکونکي منظر ډېره اغیزمنه کړم او داسې مې محسوسوله چې دسکون او اطمینان دورک منزل تر دوازې ورور سېدم. څه خپل دهستو ګنې ځای ته ولاړم، شپه تېره شوه خو د ډېرې بې اطمینانۍ سره، سباڅه همدې مسجد ته په هماغه پرونې وخت بیاورغلم. خلکو چې دېرون په څېرې عبادت کاوه له دروازې مې تر پایه د دوئ ننداره وکړه، دوئ چې له مسجد نه راوتل یکې مې دهغوڅوتنانو سره خبرې وشوې کوم چې په انګلیسي پوهېدل، ما دوئ ولېدل چې دنیک اوساده مزاج ځښتنان وو، چالا کې یې په مزاجو نو کې نه وه، څه یې چې په زړونو کې وو هماغه یې په خولوو، ماسره یې چې خبرې کولې دخبرو په جریان کې به یې په خور اولور مخاطبه کولم. د دوئ سره په خبرو کې مادځان لپاره ډېر امن محسوساوه، ما د دروغو ډېرې مطلبي مینې لېدلې وې خو دانسانانو داسې بې غرضه دوستي اوانساني محبت مې کله نه ولیدلی تر دې چې دشعور په خپل ټول عمر کې دا رومبی ځل و چې ما دچانه دخپل ځان لپاره د خور اولور کلمه واوریده.

په مصر کې دفلم د کارپوره کېدونه پس مورایتالیا ته راستانه شو.

له تاسو به یې څه پټوم خو په ایټالیا کې زما دیوځوان سره دوستي وه او همدا مې غیر رسمي مېړه و ، پر مادي مفاداتو دولاړ یو تحریري تړون له مخې زموږ دا دوستي داسې مخ په وړاندې تله لکه دوه سوداګر چې په خپلو منځونو کې دتړون نه پس یو شرکت جوړ او کارونه مخ په وړاندې بوځي .

څه چې دمصر نه راستنه شوم داتړون مې یوځل بیاولوستلو ددې په هرې برخې به مې چې غور کاوه دخپل حماقت او بې عقلۍ احساس به مې زیاتېدلو ، ماخپل دوست سره داخبره شریکه کړه خو پرې ښه ونه لګېده نو ورو ورو زموږ ترمنځ فکري اختلاف رامنځته شوچې ورځ تربلې زیاتېدلو . زموږ یوشمېر خواخوږو زموږ ترمنځ دسولې هڅې هم وکړې خوناکامې شوې چې تر ډېره حده دناکامۍ لامل زما بدل شوی فکر و . بالآخره زموږ د دواړو ترمنځ بیلتون راغلو او ترڅنګ یې ماپه فلمونو کې کار کول هم پرېښودل . څه به تل په فکرونو او سوچونو کې عرقه وم په مصر کې دلېدلو مسلمانانو ښه اخلاق ، په عبادت کې یې سادګي ، پکې برابر والی او دزړونو او اخلاقو پاکي زما نه بېخي نه هېرېدله او داهر څه به مې مخې مخې ته کېدل او تل به مې دمصر دهغه کوچني جومات تصویر مخې ته و .

یوه ورځ چې څه خپل موټر ته ناسته او په ښار کې روانه وم دسرک تر غاړې مې په یوې لوحې نظر شو چې پرې یې په عربي او انګلیسي دواړو ژبو لیکلي وو ((دروم اسلامي مرکز)) څه دموټر نه ښکته شوم اونېغه دې مرکز ته ورغلم ، په مرکز کې مې دشتو څومسلمانانو سره ولیدل خو دخپل درد په باره کې مې هیڅ ور ته ونه ویل . ماترې یواځې په ایټالیایې ژبې کې دمسلمانانو داسماني کتاب ژباړه وغوښته هغوئ ماته دقرانکریم ترجمه راوړه او ورسره یوځای یې یو پاکټ هم راکړ چې پرې ((دورونو له لورې محترمې خور ته ډالۍ)) لیکل شوي و.

کور کې مې چې پاکټ پرانیست نو پکې په ایټالیایې ژبې څو لیکل شوې رسالې وې چې پکې داسلام او داسلام دستر پېغمبر په اړه معلومات او دمېرمنو سره دغوره سلوک په اړه پکې اسلامي لارښوونې وې .

ما دا ترجمه او دا رسالې ډېر قیمتي متاع ګڼلو او په ډېر خوندي ځای کې به مې ساتلې . هره ورځ به مې په ساعتونو ساعتونو مطالعه کولې چې له امله به یې د هدایت یو نوې دروازه راته خلاصېده .

یو ورځ مې ناڅاپه زړه ته راغله چې د کوم شي په باره کې چې زما قلبي اطمینان شته نو بیا دزړه نازړه کېدلو څه معنی ؟ بس اسلامي مرکز ته ولاړم او هورې مې مسلمانانو ته داسلام قبلولو خواهش مې ښکاره کړ . ما فکر کاوه چې داسلام قبلول به یوه اوږده پروسه وي او که څو اوونۍ نه وي نولږ تر لږه څو ورځې خو به خامخا نیسي ، داسلامي عقایدو بنسټیزې خبرې خو مالا له وړاندې دزړه نه منلې وې . په مرکز کې موجودو ورونو (چې وروسته راته معلومه شوه چې داسلام په اړه یې معلومات ډېر زیات وو) راته وویل

چې دزړه نه دې چې څه منلي دي همدا په ژبه هم ووایه ! ما همداسی وکړل او د دې ترڅنګ راته یو ورور دشهادت کلمه او دهغې معنی هم وویله چې ماورپسې تکرار کړه او دخدای په فضل مسلمانه شوم . په دې ورځ چې ما دکومې بې ساری خوښۍ او اطمینان احساس کړی هغه زه په الفاظو کې نه شم بیانولای .

زما او دوست ترمنځ چې کله جدایې رتله نو راته هغه داویلې وو چې مارشیلا ! کله کله به په خپلومنځونو کې تیلفوني تماس ټینګو و. خوپه پوره دوه کلونو کې زموږ ترمنځ کله تیلفوني تماس نه وټینګ شوی . ماسره دهغه ډېره زیاته مینه دځوانۍ دغوښتنو دپوره کېدو په بنسټ ولاړه وه خو ترڅنګ یې هغه دمثبت دریځ څښتن هم و. ما هغه ته مازیګر ۴بجې تلیفون وکړ او ورسره مې دلیدنې خواهش بنکاره کړ هغه ډېر خوشاله شو او راته یې دراتلو وویل . ځه نېغه هغه هستوګنځي ته ورغلم چې مې پکې دخرافاتو نه ډک دځو کلونو اوږد ژوند تېر کړی و . ما هغه دخپلې پرېکړې نه خبر کړ او داسلام څو غټې خبرې مې ورته بیان کړې.

هغه وویل : دادین دبودا توب سره ډېر مناسب معلومېږي نو که دادین قبلوو بنه به داوي چې کلونه پس یې قبول کړو،،

ماوویل: ته ما ته داضمانت راکړه چې ۴۰ کلونه پس به هم موږ ژوندي یو هغه وویل: هو! داخو هېڅوک هم نه شي ویلای . داسی بنکاري چې تادادین دپوره مطالعې نه پس قبول کړیدی،،



ماوویل هو! همداسی ده،، هغه وویل: ماته خپل ځان اوس کوم مذهب قبلولو ته چمتو نه بنکاري خو څه دایقین لرم چې ته زما لپاره هغه څه غواړې کوم چې دخپل ځان لپاره بنه ګڼې اوچې څه ستا لپاره بنه وي هغه به زما لپاره هم بنه وي ،، هغه بیا وخندل اوویې ویل:

څه باور لرم چې مارشیلا ترلاسه کړم خدای ته به هم ورسېږم ،، ماور ته وویل نه داسی نه شي کېدای ، هو ! ددې عکس ممکن دي ، هغه بیا ماته بنه متوجې شو او په پوره توجه يې وپوښتل : بنه ! نو داسلام راوړلو په لار کې څه باید څه وکړم ؟ ماور ته وویل : یو خو داچې الله تعالی به یو مني ! هغه زما خبره پرې کړه او ویې ویل ما چې کله هم پدې هکله فکر کړی نودې نتیجې ته رسېدلی یم چې الله تعالی باید یووي ، ماور ته وویل : هو ! اسلام همدا وایې چې الله تعالی یودی شریک نه لري ،، هغه وویل : نو باید څه وکړم ما وویل : په آخرت باید یقین ولرې او اقرار یې وکړې هغه وویل : تاته شاید نه وی معلومه خوځه لاله وړاندې په آخرت یقین لرم او دامې باور دی چې ددې ژوند پسې خامخا بل اوږد ژوند شته او یوه ورځ به داسی راځي چې دانسانانو دښو او بدو پرېکړې پکې وشي .

ما وویل : محمد صلی الله علیه وسلم به وروستی پېغمبر منی ! هغه وویل ما خو دهغه نظریات او لار بښوونې ندي لوستی تالوستی دي ؟ ما وویل : هو ! مالوستی دی او خلاصه يې داده چې هغه صلی الله علیه وسلم ټولو انسانانو ته دخیر رسولو خبره کوي ،،

هغه وویل مسلمانان ربستیا تروریستان دي ؟ ما وویل دا دروغ ده مسلمانان امن خوښوونکي دي .

هغه وویل نو رڅه وکړم ؟ ماور ته په ټولو هغه شیانو د ایمان راوړلو وویل په کومو چې ایمان راوړل ضروري دي . هغه چې تیاری وښو د نوور ته مې وویل چې بس دهمدې خبرو اوس په ژبه اقرار وکړه ! هغه وویل : په رسنیوو کې ؟ ما وویل : نه ! زما تر مخه ، هغه وویل یو خوبل څوک هم پکار دی ما وویل : غوره داده چې اسلامي مرکز ته ولاړ شو هورې زمور مسلمان عالمان دي بنه مفصله خبره به وشي .

هغه تیار شو او په خپل موټر کې مې ځان سره کښاوه ، مرکز ته په رسېدو او هورې دمسلمانو وروڼو سره دخبرو اترو نه زما تمې سره سم هغه ډېر ژر اغېزمن شو او اسلام قبلول يې اعلان کړل مسلمانو وروڼو وربانديې دشهادت کلمه او ترجمه يې تکرار کړه .

هغه بیادمسلمانو وروڼو نه وغوښتل چې یو اسلامي نوم رابانديې کېږدئ ! هغوئ ور ته عبدالله نوم غوره کړ ، ما هم همدا غوښتنه وکړه نو په مایې فاطمه نوم کېښود .

په اسلامي مرکز کې چې کوم مسلمان وروڼو ته ما داسلام قبلولو پر مهال خپل ټول حالت بیان کړي وو هغه وویل : وراندې ستاسو دوارو د مینې ژوند تېر شوی خو په نامشروعه ټوګه ، که اوس په مشروع ټوګه دواړه سره شریک ژوند پیل کړئ غوره به وي عبدالله وویل څه سمدستی تیاریم ، ماهم خپل چمتووالی بنکاره کړ ، په مرکز کې یو عالم زمور نکاح وترله اوڅه دمارشیلا انجلونه فاطمه عبدالله شوم

قهرمان غازي سيد رسول له مورچل سره په مرکه کې:

له برید وروسته لس دقیقې زه په بیس کې ګرځیدم راګرځیدم، هیڅوک نه وو پاتې چې په مایې ډزکړای وای

درنو لوستونکو ! پدې ګڼه کې مو له داسې یوه ځوان غازي سره خواله کړې چې د ۱۴۳۳ هق کال درمضان المبارک دمیاشتې په ۱۹ مه نیټه یې دپکتیاولایت دشواک ولسوالۍ په امریکایې بیس کې په یرغلګرو دخپل ټوپک شپیلۍ راتاوه او دعیني شاهدانو دمعلوماتو پراساس په لسګونو نیوا کګر یې ټپیان او ووژل، او عملاً یې هغوی ته دا ثابته کړه چې افغانان فطرتاً له یرغلګرو کفارونه کرکه لري، یرغلګر به ددوئ له ګوزارونو څخه د ګران ټ ټوبې په هیڅ ځای کې خوندي پاتې نه شي.

دنومورې په دې سربندنه کې دهغه چا لپ ره هم عبرتونه دي چې دیرغلګرو په صف کې ولاړ دي او شپه ورځ دهغو ئ اسلام او ملت ضد اعمال په سترګو وینې او دا غږ پرې کوي چې که رښتیا مسلمان یاست نو له دې کفارو څخه دقرآن کریم، خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم او ځوریدلو هیوادوالو غچ واخلئ او پدې لاره کې له زندان، مرګ او نورو کړاوونو څخه مه ویریږئ !

پوښتنه: لومړی دخپل اسلامي جهادي او افغاني غیرتي احساس له مخې درته دد غو مبارکو عملیاتو دبریا او فتحې مبارکي وایو او هم درته داسلامي امارت په سپیڅلي صف کې دګډون مبارکي او تود هرکلی وایو هرکله راشې راتلل دې مبارک شه.

که په لنډ ډول ځان رامعرفي کړې مننه به مو وي؟

ځواب: زه هم په خپل وار داسلامي امارت دټولو مبارکو او بریالیو عملیاتو مبارکي تاسې ته او داسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته وایم او له الله جل جلاله څخه ډیر راضي یم چې زه یې دطالبانو په صف ګډ کړم. اوس راځم دلومړۍ پوښتنې ځواب ته:

زه سید رسول دسید ګل زوی داروزګان ولایت دګیزه ولسوالۍ دبازمۍ کلي اوسیدونکی یم.

پوښتنه: که دخپلې دندې په هکله معلومات راکړې چې کله او چیرته دې وظیفه اجراء کړې؟

ځواب: زه دتندر قل اردو دلومړی لوا دشپږم کنډک ددریم ټولې د اول بولوک دملي اردو سرتیری یم او ټوله وظیفه مې یو نیم کال دپکتیا ولایت شواک ولسوالۍ کې ترسره کړې.

پوښتنه: که په لنډ ډول ددغو مبارکو عملیاتو دپلان طرحه او دې سپیڅلي هدف ته رسیدل تشریح کړې یعني دعملیاتو پلان مو څنګه و او څنګه خپل هدف ته ورسیدئ؟

ځواب: له اول نه مې داسې برید ته اراده وه، دملي اردو څو ملګري له ماسره همکار او زما په راز خبر وو، زه مریض وم دکابل په چارصدو بستر کې دیره وم، همکار ملګري مې زنګ راته وواهه چې امریکایان زمونږ له ځایه وځي او کمپاین ملي اردو ته سپاري، ته خپل کارځنګه کوې؟ زه سمدستي راروان شوم، دچارصدو بستر ډاکټرانو راته ویل: چې ته خو لا جوړ نه یې ته چیرته ځې، ما ورته وویل: چې زماله جوړتیابه په خپله خبر شئ زه روغ جوړ یم.

کله چې راغلم ګورم چې امریکایان دتلو په حال کې دي. درمضان نیټه وه او دماسپښین یوه بجه وه، له ترجمان نه مې پوښتنه وکړه چې امریکایان کله وځي؟ هغه راته وویل چې همدا نن روان دي. ژر راپورته شوم ټوپک او مرمئ مې صفا کړې دریشي او بوټونه هرڅه مې نوي واغوستل له غسل او نفل لمونځ کولو وروسته مې دعاء وکړه، او دا مې ویل چې زه به نن روژه په خپلو وینو ماتوم دژوندي وتلو مې هیڅ خیال نه وو، چې کله دبیس منځ ته راغلم ګورم چې امریکایان دبیس په منځ کې ناست دي، زغرې اسلحې او نور ټول سامانونه یې بهر په موټرو کې ځای پر ځای کړي دي، دوی دلته دیادګاري ویډیو لپاره سره راټول وو، شراب یې څښل او دخوشحالۍ اظهار یې کاوه چې مورږلدې ځایه پداسې حال کې وځو چې هیڅ تلفات نه لرو.

زه په څه بهانه ددوئ په منځ کې تیر شوم ومې شمارل چې په یوه طرف صف کې له دیرشو څخه زیات کسان ناست دي او بل لوري ته له دې څخه هم زیات کسان موجود وو، بیرته خپل اطاق ته راستون شوم مورته مې تیلیفون وکړ چې زما کار برابر دی دعاء کوه، مور مې چې زه یې په همدې نیت ملي اردو ته رالیږلی وم چې امریکایان به وژنم ډیره زیاته خوشحاله شوه، دعا یې راته وکړه چې څه الله دې مل شه.

خپل ټوپک مې راواخیست شل جاغوره مې په چانټه کې ځای پر ځای کړل او لدې زیات جاغورونه مې یوه بوجۍ ته واچول او بوجۍ مې غاړې ته واچوله.

تقریبا ۳ بجې وې چې دخپل توپک شپیلۍ مې ددوئ په لور وروارولە او ناست ټول امریکایې عسکر چې ټول غیر مسلح وو ځای په ځای مردار شول، یوه امریکایې عسکر دباندې لخوا په ما څو انداخته وکړل ما هم ځوابي ډزې پرې وکړې بالاخره مې سم په نښه کړ او ومې ویشت چې ځای په ځای ووژل شو.

پدې وخت کې دټول کمپائن امریکایې قوماندان له یوې خونې بهر راووت په ځان او حالاتو نه پوهید شراب یې څښلي وو ،یوې بلې خواته یې کتل زما خوا ته یې شا وه هغه مې هم وویشت، مردار شو ، او سر ته مې یو څو لغتې هم وواهه، لدې وروسته تقریبا لس دقیقې همدلته ګرځیدم کوم خارجی ژوندی نه وو پاتې چې ویشتلی مې وی او یا یې په ما ډزې کړې وای، بس له کمپائن راووتلم دشابک تنګي دغره په طرف ولاړم له کوم مجاهد طالب سره مې چې له مخکې رابطه وه ورسره یو ځای شوم

پوښتنه: داسلامي امارت له مجاهدینو او طالبانو سره دې څنګه مینه او علاقه پیدا شوه او څنګه دې ددوئ په لور ګام واخیست؟

ځواب: ما ته پخوا رامعلومه وه چې طالبان دهیواد اصیل او رښتوني بچیان دي، ددین او هیواد نه ددفاع په خاطر له خپل هرڅه تیر او هر راز قرباني ته تیار دي او زما وروره هم پخوانی طالب او مجاهد دی نو لدې لارې مې له طالبانو سره مینه ده او ځکه مې ددوی په لور ګام واخیست.

پوښتنه: داچې تاسې دپه اصطلاح ملي اردو په صف کې دنده ترسره کوله کومې ترخې خاطرې او دامریکایانو کوم جنایت او وحشت دې جهادي احساس راوپاراوه چې دخپل توپک شپیلی دې ددوی په لور وروړولە او خپلې ګرمې مرمئ دې ددوی په سینو کې یخې کړې؟

ځواب: امریکایې جنایتونه او وحشتونه خو پیر دي خو چې ما په خپلو سترګو لیدلي او زما جذبه یې راولاړه کړې هغه دا چې ددوی دګندګی او خزلو په ځای کې ما څو واړې د (قرآنکریم) پاڼې پیدا کړې چې آیتونه به پکې لیکلي وو او دوی به قصدا دغه ځای ته غورځول.

دوهم دا چې دوی به چې چیرته په عملیاتو کې سپین بیرغ چې دتوحید سپیڅلې کلمه به پرې لیکل شوې وه ونیوه همدا بیرغ به یې سپي ته په خوله کې ورکاوه.

دریم دا چې یو سپین ږیري عام سړی یې له موټر څخه راکوز کړ یې له کوم جرم څخه یې زمونږ په وړاندې سخت په تعذیب کړ مقصد یې دا و چې مونږ ټول افغانان وځوروي.

پوښتنه: دا چې تاسې له امریکایانو سره نږدې وخت تیر کړی او له هر چا یې ښه پیژنئ آیا ربنتیا هم دوی د افغانستان ابادی او بیا رغونې لپاره راغلي؟ آیا ربنتیا هم دوی دافغانانو دوستان او خواخوږي دي که څه نظر لرې؟

ځواب: ربنتیا هم مونږ امریکایان له نږدې ولیدل و مو پیژندل او حقیقت یې راته معلوم شو، دوی هیڅکله دافغانستان دابادی لپاره ندي راغلي ځکه دوی له ځان سره دابادی اسباب او وسائل نه بلکې ټول جنګي وسائل راوړي او بله دا چې دوی زمونږ په مرکز کې بنیادي کار نه کاوه بلکې موقتي غوندې کار یې کاوه، او دافغانانو سره خو یې بالکل خواخوږي نشته، تل یې دافغانانو په وژلو ځورولو او سپکولو پسې متې رابږوهلي دي او هر ډول توهین او سپکاوی یې کوي لکه دا تاسې یې چې اورئ او ګورئ یې.

پوښتنه: څنګه دې لویې قرباني ته تیار شوې؟ آیا پدې کار سره تادانه انګیرله چې ددښمن لخوا به ونیول شم زندان ته به واچول شم له سختو ستونزو او ربړونو سره به مخ شم؟

ځواب: دې کار ته زه د شهادت په نیت تیار شوی وم، کله چې ځوک خپل هدف ته درسیدو په لاره کې مرګ ته تیار شي، نو بیا نور تکلیفونه ورته هیڅ ښکاري، د یرغلګرو ظلمونو، جنایتونو او د هغوی له لوري دګران هیواد اشغالیدو مې جهادي احساس دومره ګړندی کړ، چې زندان ستونزې او تکلیفونه یې رانه هیر کړل.

پوښتنه: د کرزي د مزدورې اداړې په هکله څه نظر لرې دوی په خپل وطن کې خپلواک دي او که بې واکه؟

ځواب: د کرزي اداره یوه مزدوره، اجیره، لاسپوڅې، غلامه او د پردیو تر لاس لاندې اداره ده دهیڅ کار او فعالیت واک نلري هر کار دامریکایانو په امر او مشورې تر سره کوي، ډیر ځلې به یې مونږ ملي اردو بهر ته وتلو ته هم نه پریښودو او پدې سره به یې مونږ ته دا ښودله چې تاسې زمونږ غلامان یاستی تاسې هیڅ واک نلرئ.

پوښتنه: آیا ددې کار په ترسره کولو کې تاله چا سره مشوره کړې وه او که په خپل سر دې دا کار وکړ؟

ځواب: ما پدې کار کې له مور پرته له بل هیچا سره مشوره نه وه کړې او نه زما په راز زما له مور پرته بل ځوک خبر وو، تردې چې زما یو ورور په هلمند کې فعال مجاهد دی هغه ته مې هم حال نده ویلی او پدې مې نه وو خبر کړی چې زه په ملي اردو کې داخل یم، بس یوازې مور

مې خبره وه او هغې په دې شرط اجازه راکړې وه چې امریکایان به وژنې او وخت په وخت به یې تلیفون راته کاوه او راته ویل به یې چې: کار دې څنګه کړ؟ ولې کار نکوې؟ خامخا به کار کوې.

پوښتنه: د ستا په برید کې چې تا په خپله ولیدل څومره امریکایان به مردار شوي وي؟

ځواب: یقیني او دقیق شمیر خو ندی راته معلوم، خو دبیس په داخل کې چې څومره امریکایان دبرید پر مهال موجود وه یو هم ژوندی ندی پاته شوی ځکه له برید وروسته لس دقیقې زه په بیس کې ګرځیدم راګرځیدم هیڅوک نه وو پاتې چې په مایې ډز کړی وای، او بله دا چې له برید دوه ورځې وروسته مې دملي اردو یو همراز ملګري ته زنګ وواهه او قسم مې وروا چاوه چې ته په والله باالله تالله قسم وخوره او حقیقت راته ووایه چې زما په برید کې څومره امریکایان مردار شول؟

هغه قسم وخوړ چې والله پنځوس ما په خپله وشمارل او له شپیتو څخه زیات ټپیان وو چې دځینو حال یې نازک وو نور نو خدای ته علم ده.

پوښتنه: په افغانستان کې میشتو یرغلګرو ځواکونو په ځانګړې توګه امریکایانو ته څه پیغام لرې؟

ځواب: دنړۍ ټولو هیوادونو ته دا معلومه ده چې افغانستان ته راتلل آسان دي خو بیرته وتل خورا ډیر ګران دي، افغانان هغه په دین او وطن مین خلک دي چې هر تیریګر ته یې دتورې او توپک په ژبه ځواب ویلی، هیڅکله یې چا ته دغلامی سر نده ښکته کړی، هر اشغالګر چې دلته راغلی هغه له سختې شرموونکې ماتې سره مخ شوی، نو ټولو اشغالګرو کفري ځواکونو ته دا پیغام لرم چې تاسې به هم دنورو په څیر له ماتې سره مخ په ټیټو ستر ګو له افغانستان څخه ووځئ، خو دا اوس لږ فرصت لرئ که مو بیړه ونکړه بیا به ارمان کوئ، دحسرت او پښیمانتیا لاسونه به مروړئ خو هیڅ به په لاس نه درځي، تاسې په ټولو افغانانو دکرزي، رحیم وردګ، ګل آغا شیرزي، ډاکټر عبد الله، فهیم او نورو تالي څټو ګمان مه کوئ هغوی په غرب کې لوی شوي، دغربیانو په رنګ رنګ شوی او دغرب تابعیت یې اخیستی، اما افغانان فطرتاً له جهاد او آزادی سره مینه لري اصیلو افغانانو هیڅکله هم د چا غلامي نده منلې او نه به یې ومني

پوښتنه: هغه افغان ځوانان چې په اصطلاح ملي اردو، ملي پولیسو او نورو حکومتي ارګانونو کې دندې اجراء کوي هغوی ته څه پیغام لرې؟

ځواب: ای دملي اردو او ملي پوليسو سرتيرو تاسې ته الله جل جلاله د جهاد ډيره ښه موکه په لاس درکړې. امريکايان ستاسې له بريدونو څخه ډير تنګ دي، نو تلوار وکړئ په امريکايانو د خپلو وسلو شپيلئ راوګرځوئ او داسې تاريخي کارنامې ترسره کړئ چې نومونو مو د اسلام د تاريخ په ځلانده پانو کې ثبت شي، د حکومت او امريکايانو له تبليغاتو متاثر نشئ، داسلامي امارت مجاهدين داسې کسانو ته ډير خوشالیږي، او په ډيرو لويو جايزو او امتيازاتو يې نازوي.

زه يې پخپله ډير ونازولم له ماسره يې ډيره مرسته وکړه، زما يې ډير تود هرکلی او استقبال وکړ.

پوښتنه: له دې وروسته څه اراده لرې څه کار به کوې؟

ځواب: زه د جهاد په نيت راوتلی يم تر هغو پورې به جهاد کوم چې يا امريکايان ونه باسم او يا د شهادت لوړ مقام ته ونه رسيږم الله تعالی دې دا مقام راته نصيب کړي.

پوښتنه: ګرانه غازي! دمر کې په پای کې که دخپل ژوند کومه خوږه يا ترخه خاطره راته بيان کړې؟

ځواب: هو مولوي صاحب ترخې او خوږې خاطرې خو ډيرې دي، ترخې خو هغه دي چې د شپږمې پوښتنې په ځواب کې مې د امريکايانو دوحشتونو او جنايتونو په برخه کې درته ذکر کړې، او خوږې خاطرې په ما باندې په ټول عمر کې دوه ځله راغلې: يوه هغه مهال چې امريکايان به مې ويشتل له خولې او پزې به يې وينې لاړې او مردار به شول دا يقيني ډيره خوږه خاطره وه چې په ما تيره شوله.

دوهمه کله چې له برید وروسته له طالبانو سره يو ځای کيدم نو چې ومې ليدل په سلګونو طالبان مسلح زما استقبال او هرکلي ته راوتلي وو، دراکټونو، زيړه کيو او کلاشنکوفونو فيرونه کيدل، د تکبير نارې وې، او د طالبانو په لاسونو کې آميلونه وو چې زما غاړې ته يې را اچول، دا دومره له خوشالي ډکه صحنه وه چې ډير طالبان مې وليدل چې له خوشالي يې له سترګو اوښکې راونې وې، ټولو طالبانو زما لاسونه ښکلول، زما ټوپک يې مچو کاو چې دا د غازي ټوپک دی ډيره د خوشالی صحنه وه، الله جل جلاله دې نورې هم داسې د خوشالی صحنې او خوږې خاطرې په مجاهدينو راولي.

غـــــــزنوي

مداحی و ستایش اشخاص باعث خوش آمد مردم است

اگر ستایش و تمجیدها طبق قواعد دینی، قرآنی و اخلاقی بوده و کسی که از او تمجید صورت میگرد واقعاً همانگونه باشد اشکالی ندارد، اما آن مدح که با قواعد دینی و اسلامی موافقت پیدا نمی کند و باعث غلو در صفت گردیده تاحدیکه کسی را از مقام و منزل کمالش به بالا ببرند و یا شخصی را از محدوده بشریت خارج می نمایند تا جائیکه دیوار جامد گلی را مانند اسپ سواری و یا موتر ساخته، شخص را بر او سوار از یک شهر به شهری دیگری میرسانند و برای رونق دکان خویش به پیمانه وسیع تبلیغات می کنند.

وعده یی مدح شان خبر چاپلوسی بخاطر حاصل مقصد خاص و نزدیک شدن به شخص هدفی دیگری ندارند ایشان ممدوح را آنقدر مدح می کنند که خوف افتیدن شخص به فتنه و غرور نفس گردیده، پشت او را شکستانده و گردن او را قطع می کند.

از ابی موسی الاشعری رضی الله عنه روایت است که گفت: سمع النبی صلی الله علیه وسلم رجلاً یثنی علی رجل و یطریه فی المدحة، فقال: (اهلکتم، او: قطعتم ظهر الرجل)متفق علیه.خ.۲۶۶۳م ۳۰۰۱ (شنید پیامبر صلی الله علیه وسلم که مردی، ستایش مردی دیگری را میکند و در مدح او مبالغه می نماید، فرمودند: هلاک گردید (پشت مرد را نابود کردید) یا پشت اورا شکستید) .

و عن ابی بکرة رضی الله عنه ، ان رجلاً ذکره عند النبی صلی الله علیه وسلم فاثنی علیه رجل خیراً، فقال النبی صلی الله علیه وسلم و یحک! قطعت عنق صاحبک، یقوله مرا راً، ان کان احدکم مادحاً محالة، فلیقل، احسب کذا و کذا ان کان یری انه کذلک وحسیبه الله ، ولایزکی علی الله احد) متفق علیه خ ۲۶۶۲ م ۳۰۰۰ از (ابی بکرة) رضی الله عنه روایت شده است که گفت: یقیناً مردی را در حضور پیامبر صلی الله علیه وسلم نام بردند: پس ستایش کرد شخصی اورا به خیر، پیامبر

صلی الله علیه وسلم فرمودند: وای بر تو! قطع کردی گردن دوستت را))، و این جمله را چند بار تکرار کردند و فرمودند: اگر یکی از شما ناچار است که دیگری را مدح کند، بگوید: گمان می کنم او چنین وچنان است آن هم اگر باور دارد که او چنان است (این را بگوید) وحسابگرد دقیق او خداست و نزد خدا (که از همه چیز آگاه است)، کسی تزکیه و تطهیر نمی شود یعنی کسی نمی تواند به عاقبت شخصی حکم کند.

و در حدیثی دیگری که مسلم روایت نموده چنین آمده است و عن همام بن الحارث عن المقداد رضی الله عنه – ان رجل جعل یمدح عثمان رضی الله عنه فعمدالمقداد، فجثا علی رکبتیه، فجعل یحثو فی و جهه الحصباء، فقال له عثمان : ما شأنک؟ فقال: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : اذا رایتم المداحین، فاحثوا فی وجوههم التراب، مسلم ۳۰۰۲ .

از همام بن حارث از مقداد روایت شده است که گفت : مردی، شروع به مدح عثمان رضی الله عنه کرد، مقداد برخاست و بروی زانو نشست و شروع به انداختن ریگ ها بصورت آن مرد کرد، حضرت عثمان (رض) به او گفت : چرا چنین کردی؟ مقداد گفت : پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: وقتی ثناگویان و مداحان را دیدید، بر صورت آنها خاک بپاشد.

بعضی افراد اکابر پرستی می نمایند فقط به آمر، رئیس قوماندان و خان وسرمایه دار سلام را خاص نموده صرف به آنها توجه کرده .

سلام تقدیم می نمایند و به کسی دیگری و لو در آن مجلس ومکان باشد توجه نمیکند در حدیثی پیامبر صلی الله علیه وسلم فرموده اند:

عن عبدالله عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : بین یدي الساعة تسلیم الخاصة وفشو التجارة حتی تعین المراة زوجها علی التجارة وقطع الارحام وفشو العلم وظهور الشهادة بالزور و کتمان شهادة الحق . الادب المفرد: باب من کره تسلیم الخاصة ص ۱۰۰

از عبدالله رضی الله عنه روایت است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: قبل از ظهور قیامت چند چیز پخش می شود، سلام و کلام با خواص (بجای عوام صرف اکابر را سلام میدهند) . ۲ – پخش کار و بار و معاملات تا اینکه کمک می کند زن شوهرش را در کاروبار تجارت ، یعنی در کمایی دولت حرص آنقدر زیاد میگردد که بجای اینکه زن فرائض خانوادگی مثل تربیت اولاد وغیره را انجام دهد: بلکه زن مجبور می گردد در مصروفیت های تجارتی همکاری نماید.

۳ قطع صلهٔ رحم ۴ پخش و ترقی علم (درین رابطه بدی و خرابی در آن است که علم وتعلیم بسیار مشهور می شود لیکن معیار شرافت تهذیب و اخلاق روز بروز پست شده میرود، ۵ عام شدن شهادت دروغ و کتمان شهادت حق یعنی فسق و فجور آنقدر غلبه پیدا می کند که مردم شریف از شر مفریضین خاموش بودن را به سلامتی خود می پندارند.

بعضی دیگری به کسانیی سیدو آقا می گویند که آن کس لیاقت و ارزش آن لقب را ندارد، به این معنی که یک شی را در مکان غیر و نا مناسب میگذارد.

از بریده رضی الله عنه روایت شده است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند:

(لاتقولوا للمنافق سید، فانه ان یک سیدا، فقد اسخطتم ربکم عزوجل، ابوداود ۴۹۷۷

به منافق، سید(آقا) نگوئید، زیرا اگر اورا سید شمارید، خداوند را که صاحب عزت و جلال است، خشمگین کرده اید.



از آنچه گفته شد گفته می توانیم که مدح دوصورت دارد یکی آن جایز و مباح ودیگرش حرام و مکروه است، که مدح مباح و جایز نیز در احادیث پیامبر صلی الله علیه وسلم وارد شده است، مثل حدیثی که به عمر (رض) فرمودند: شیطان در هر راهی ترا در حال عبور ببیند، راهی دیگر غیر از راه تو را درپیش میگردد) وشرط مدح روبرو آنست که موصوف به غرور نفس و بر بادی دچار نگردد و در مدح مبالغه صورت نگیرد که پیامبر صلی الله علیه وسلم چنین مدح را به (هلاکت، شکستن پشت و بریدن گردن) تشبه نموده به خدا از همچو مدح پناه می بریم

حامد :.....

شهيدي قافلي

شهيد سيف الله (فداء)

اتل او قهرمان غازي- شهيد طالب العلم سيف الله (فداء) د حاجي افريدي زوی د خوست ولايت دقلندر ولسوالۍ د وراغه د کلي اوسيدونکی و. سيف الله فداء دکمونيستي يرغل پر مهال د هجرت په دوران کې د پاکستان د خيبر پښتونخوا د هنګو د ټل په سيمه کې په کال 1986م کال دجون دمې اشتي په 15 نيټه دې فاني نړۍ ته ستر ګي پرانيستي او د نسب لړۍ يې د منګلو د قوم د موسی خيلو دکمالخيلو له قبيلې سره ترلې ده.

نوموړی ديندار او د ډيرو ښو اخلاقو خاوند و. د ملګرو له خدمت سره يې ډيره زياته مينه درلوده، او په پلان جوړولو او راز ساتلو کې يې خاص نوم او مهارت درلود.

شهيد سيف الله (فداء) چې د يوې ديني ،علمي او درنې کورنۍ سره تړاو درلود لومړنۍ زده کړې يې د خپلو ترونو حاجي ملا عبدالله خان فاروقي، او مولوي حبيب الله حنيف، څخه ترلاسه کړې، له دې وروسته يې د خوست ولايت د دوسرکې په ليسه کې تر پنځم ټولګی پورې زده کړې وکړې ، وروسته يې د ديني زدکړو تحصيل ته مخه کړه او د ديني علومو د زدکړې لپاره پاکستان ته لاړ، چې هلته يې په بيلا بيلو مدرسوکې تر يو حده سبقونه وويل خو نوموړي د جهاد او د هيواد ازادي سره ډيره مينه درلوده، همغه و چې د هيواد ازادولو په پاري يې خپل کتابونه کت کړل او د جهاد ډګر ته يې را ودا نګل او په يرغلګرو صليبيانو يې مرګوني بريدونه پيل کړل .

شهيد فداء د خپل جهادي خدمت په لړکې د هيواد په ګڼو ولايتونوکې خپل جهادي خدمت ترسره کړو او ډير يرغلګري يې د مرګ ترکند پې ورسول، چې بالاخره نوموړی په داسي حالت کې چې د موسی خيلو د لژګي په سيمه کې په خپل جهادي مرکز کې وو، د يوه وحشيانه بريد پرمهال ، کوم چې په همدغ وعملياتوکې دصليبيانو يوه چورلکه چې ګومان

کې ده نومورې به ویشتلې وي په راکټ وویشتل شوه او رانسکوره شوه، خپله دې د نورو ملګرو په شمول په 2010\6\19 ، په شهادت ورسید ، نحسبه کذلک اناالله و اناالیه راجعون

شهید ملا اظهار الدین (صادق)

شهید ملا اظهارالدین صادق د الف الدین زوی په قوم منګل د خوست ولایت د موسی خیلو د ولسوالۍ د څپړي د کلي اوسیدونکی.

په کال 1399 هـ ق کې په خپل پلار ني کلي کې په یوه دیندار ه کورنۍ کې و زېرېد ، نو مورې ډیر زړور اود ښو اخلاقو اوشجاعت خاوند و او د همزولو په مینځ کې د اخلاقو یوه نمونه وه ، د دوستانو اومجاهدینو علماوو په زړونو کې یې په لویه کچه قدر او عزت ځای درلود.

ملا اظهار الدین صادق خپلې لومړنۍ زدکړې د خپل کلي له امام څخه کړې وې ،له هغه وروسته یې د لومړنیو درجو کتابونه د خپل کلي په مدرسه (درالعلوم فاروقیه) کې تر دریم پ درج پ ورسول او مینځنۍ زدکړې (ترتکمیله پورې) یې د افغانستان او پاکستان په بېلابېلو مد ارسوکې ترسره کړې ، خو له بده مرغه یې د کورنۍ ستونزو له امله ونشو کولای چې د حدیثو دورې ترسره کړې.

ملا اظهار الدین صادق ډیر ځیرک او پیاوړی ځوان، ښه مقرر او مبلغ وو ، د دیني خدماتو په ډګر کې یې د جهاد او سیاست طریقت او دعوت په هر شاخ کې پوره او نه ستړې کیدونکي هلې ځلې کولې او هر ډول ستونزو ګالله یې غاړه اینې وه، د طالبانو د اسلامي تحریک په تشکیلاتو کې یې د افغانستان په مختلفو سیمو لکه لوګر، کابل، وردګ، قندوز، تخار، ننګرهار، خوست، پکتیا او داسې نورو کې نظامي او اداري خدمتونه ترسره کړي دي.

نومورې د عربو خلیج ته د دوو کالو سفر وروسته په خپل ایماني غیرت او زیات شوق د صلیبي یرغلګرو په مقابل کې په جهاد پیل وکړ، چې په همدې لړ کې یې ډیر خدمتونه وکړل په اخیر کې د 32 کالو په عمر د 1431 هـ ق کل د رجب د میاشتې په 7 تاریخ د هفتې په شپه د ماسخوتن څه د پاسه لس بجې د کوسین خولې په کلي کې د صلیبي یرغلګرو سره په مخامخ جګړه کې په شهادت ورسیده ،انا لله وانا الیه راجعون - اروا دي یې شاده او یاد دي یې تل وي.

د نومورې پرمښه دري لورګانې او یو زوی پاتې د ی، چې په زوي کې یې لله الحمد د ده نښې له ورایه ځرګند ي دي.

راغلي ليکونه



موږ ته امريکايانو داسي ويلي دي

حبيب – کندهار

يو متل دی چي وايې هم درڅخه مرم او هم درپسي مرم ، هر کله چي يو د انسانيت ليري کار ووينم نو دا متل مي تل سترګو ودرېږي او وايم چي خدايه موږ به څه کوو . آخر تر کمه به دا حال وي کله کله د ځان سره ووايم چي څه غم ئې مه کوه کېدای سي چي امريکايان به د افغانستان څخه ووځي

هيواد به وي، ازادي به وي، موږ به خپله، خپله واک په لاس کي واخلو ، ګوندي خدای وي چي ګاونډيان نور راڅخه لاس واخلي ، ملک مو ازاد سي ، خدای پاک به مو د هغو د لاسه خلاص کړي چي اوس ئې دا باتور قام ته دعزت او برم پر ځای بې عزتي او بې پتي او سرټيټي را وړې او د هغوی په ميو مست دي، او خپله بقا د هغوی په بقا کي ويني.

د خپلي موضوع پر لور به راسم: څه موده وړاندي د شپې له خوا د سپورټ يا ورزش په نيت له کوره راووتم او يوه ملګري چي مخکي مو لا ژمنه سره کړې وه چي د شنبې د ورځي څخه به سپورټ پيلوو ، زنګ وواهه او هغه راته وويل چي ته د هغې خوا را روان سه او زه به د دې خوا او په عيدګا دروازه کي به سره مخامخ سو.

کله چي زه عيدګا دروازې ته راورسېدم ملګری مي د لودين هوټل مخ ته د را رسېدو په حال کي وو او زنګ ئې را وواهه ما ئې ټليفون نه کړ جواب ځکه ليدئ مي چي زما څخه په لږه فاصله ولاړ دئ. ورغلم سترې مه سې مو سره وکړه او سلا او مشوره مو وکړه چي پر کمه به قدم وهو هغه راته وويل چي ستا خوښه وي ما ورته وويل چي مخ پر کابل دروازه به ولاړ سو ، کابل دروازې ته ولاړوو د هغه ځای څخه په شابازار کي توپخانې ته راووتو او بيا مو د خرقې شريفي ترڅنګ په کوڅه کي چي د احمد شابابا د مقبرې کوڅه يا ئې شاهي طبله هم بولي تېر سوو ، دغه لار په پای کي بنده وه بېرته راوګرځېدو او په توپخانه کي چي کوم چوک ډوله ځای دئ پر هغه راپورته سو او د مخابراتو پر مخامخ کوڅه جادې ته راووتو تر هغه وروسته بيا راغلو د

یوه جوس والا دوکان ته او جوس مو وچینبه ملګري مي راته وویل چي یاره دا سپورټ ترګټي په ډېر تاوان راته تمام نه سي هسي به په خپلو کورو کي قدم وهو ما ورته وویل چي ته مه ښېرېږه څه بیا وسوه هغه وویل چي دا تور ښار ، دا عسکر او دا هرڅه ماته بدبختانه د نېک الهام پر ځای بدالهام راکوي ما ورته وویل چي ته اوس درولاړ سه او ته خپل د کور پر خوا درځه او زه به د خپل کور پر خوا ولاړ سم ، خدای په امانی مو سره وکړ او زه د عیدګا دروازې د مخابراتو د مخ پر سړک روان سوم تر لږ تګ وروسته سمدستي دوه څراغان راباندي ولګېدل ما فکر وکړ چي چوکیدار به وي خو ږغ راباندي وسو چي دې خوا ته راواوړه زه ور واوښتم په عین وخت کي مي کتل چي څوک به وي کله چي ور ورسېدم او د دوی د لاس د څراغو رونا راڅخه لیري سوه ومي لیدل چي عسکر دي سمدلاسه ئې یوه نفر داسي تلابني راپکښې وکړه چي د ویلو جرائت ئې نه لرم زه چي روان سوم یوه نفر راپیسې ږغ کړه چي بخښنه کوه ما ږغ ورته و نه کړ بیا ئې را پیسې را ږغ کړه چي تاته وایم وام بخښنه کوه ما مخ ور واړاوه او ورته ومي ویل چي د څه شي بخښنه؟ د یوې داسي تلابنۍ بخښنه چي زه یې په ویلو شرمېږم ؟

هغه را مخ ته سو او راته وې ویل چي خورا بد دي یو نه وړل ما ورته وویل چي داغسي بد کار ئې وکړ او خپل کارټ مي ورښکاره کړ هغه پر یوه او بله خوا واړا وه او را واړا وه او بیا ئې راته وویل چي اکاډمي دي لوستې ده ما ورته وویل چي یا اکاډمي والا نه یم راته وې ویل چي مورږ ته امریکایانو ویلي دي چي داسي ئې تلابني کوئ او بیا ئې راته وویل چي څنګه تلابني ئې درپکښې وکړه؟ بیا ئې تلابني کړم او راته وې ویل چي داسي ؟ دا ځل ئې تر هغه په بد ډول تلابني کړم ما ورته وویل چي هو. داسي فکر مي وکړ چي که دي ورته وویل چي یا داسي نه، کېدای سي چي تر دې دي بدتر کړي.

ما ورته وویل چي ورورە مورږ او تاسو خو مسلمانان یو د امریکانو په نصیحتو کي دي عمل کاوه خدای خبر چي شل بې کې.

هغه راته وویل چي د چا پرتندي بیا لیکلي دي چي دا سم سړی دئ او دا خراپ سړی دئ تر تا ئې ښه رنګونه وي خو اخر ځان پتاو کي ، زه پوه سوم چي د چا سره په سر سوی یې او دا آیات شریف مي سترګو ته ودرېدئ چي (و اذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلامًا سلاما).

ما ورته وویل چي سمه ده چي څنګه وایې هغه سي صحیح ده په آخر کي ئې پر تندي ګوته را ونیوله او راته وې ویل چي د مسلمانۍ خبري مه کوه په لا اله ، بېرته ئې دا توري پرېښوول او وې ویل چي په خدای که اوس هم تر ما مسلمان یې.

ما ورته وویل چي بس سمه ده خدای دي تا او دا ډول مسلماني سره زاړه کړي. ځيني را روان سوم ملګری مي چي کور ته ورسېد زنګ ئې راته وواهه چي ورسېدې په خېر ما ورته وویل چي بس د رسېدو په حال کي يم هغه ویل چي ولي دونه وځنډېدې ؟ ما ورته وویل چي د يو چا سره په خبرو اخته سوم.

خبر په دې ورځ خو خدای په امانی سره وکړ په ټليفون کي او ولاړو سبا مو دا پلان وتاړه چي نور به عينو مېني ته خو او هلته به قدم وهو يا به ځغلو.

کله چي مو موټر را روان کړ او ملګری مي را پورته کړ او عينو مېني ته چي ورسېدو که ګورو چي ټول موټران د عينو مېني و مخ ته ولاړ دي او خلک نه پرېښوول کېږي ما پوښتنه وکړه چي ولي ؟ يو نفر جواب راکړ چي يو هلک ئې غلا کړی او دروازه اوس خلاصوو.

انتظار انتظار او ډېر انتظار مو وکړ خو بېرته را کټ سوو چي راکاټ سوي لا نه وو چي يو عسکر راغی او مخ ته را ته ودرېدئ او وې ويل چي حرکت و نه کړې بس مورږ هم ودرېدو ډېر وخت ولاړ وو او بيا چي کله د عينو مېني دروازه خلاصه سوه خلک و عينو مېني ته ولاړل او مورږ بېرته د خپلو کورو پر خوا.

ملګري مي ويل چي يا ره ماوختي لا درته وویل چي دا کار راته په تاوان تمام نه سي ماورته وویل چي نور تر تېر يو او د هغې ورځي کيسه مي ورته وکړه ډېر حيران سو او ويل ئې چي تر څو به دا حال وي ما ورته وویل چي يا ره بس خدای پاک دي ئې را جوړوي ده ورباندي آمين ووايه او تاسو ئې ورباندي آمين کړئ

چي نور مو الله پاک د دې توري تيارې څخه د تل پ تي رونا پر لور کاميابه کړي او الله پاک مو د ټولو اسلامي مملکتو سره د دې غلامی څخه د ازادی خاوندان کړي.

افغانستان

دنومبر په میاشت کې

داعدام غیږه

عبدالعلي تسل

له سره تیریوداعدام غیږې ته هم وردانګو
موږد تفهیم اودافهام غیږې ته هم وردانګو

پاس په سنګر کې په ټوپک اوراکټ ګوتې وهو
د کیوبااودبګرام غیږې ته هم وردانګو

راباندې مه تپئ جنون دسامری ملګرو
د کوه طورداحترام غیږې ته هم وردانګو

راسره واری بدرګه کړئ چې غافله نشي
ولسه مونږه داکرام غیږې ته هم وردانګو

غزنی

غزني مرکزته څېرمه ټانګونه او عسکر له منځه لاړل

دغزني ولایت دمرکزاړونده دقلعه قاضي اوخشک ترمنځ سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه دوسلوال بریدپه م هال ددښمن 2 زغروال ټانګونه ویجاړ، 6 تن ه داجیري اردوعسکرمړه او5 تنه نور ژوبل شول.2012-11-05

دغزني له ګیرو ولسوالۍ نه اشغالګر عسکرووتل

دغزني لایت دګیرو ولسوالۍ نه اشغالګر عسکرپې څلور کاله وړاندې یادي ولسوالۍ تراغلي وپه مکمل ډول ووتل، خبر وایي اشغالګر عسکربه تل دمجاهدینوله خونړیوبریدونواوچاودنوسره کېدل اوله همدې امله یې سیمه پریښوده.2012-11-05

غزني مرکزته څېرمه یوتن بهرنی عسکرووژل شو

دغزني ولایت مرکزته نژدې په جبارو الوسیمه کې یوتن عسکر دمجاهدینوله خوا په چریکي برید کې وویشتل شواوځای په ځای ووژل شو.2012-11-06

دغزني په شلګر کې اکمالاتي موټروسوځول شو

دغزني ولایت دشلګرولسوالۍ په رحیم خېلوسیمه کې په اکمالاتي کاروان وسلوال بریدترسره شو، په ترڅ کې یې دکاروان یوغټ باردارموټرپه بشپړه توګه وسوځېد اوپه دې سربېره دکاروان ساتونکوعسکروته هم درنه مرګ ژوبله واوښته. 2012-11-06

یو هلک پلیس په چاقووواهه اووسله یې ترې واخیسته

دغزني ولایت دقرباغ ولسوالۍ مرکزته نژدې یوتن کوچني ماشوم دګوډاګۍ اداري یوپولیس چې په پلې ګزمه بوخت وو په چاقو وواهه اوسخت یې ټپي کړ، خبروایي برید کونکي ماشوم کلاشکوف غنیمت کړ اوله سیمي نه په خوندي توګه ووت. 2012-11-07

زنه خان ولسوالۍ تربریدلاندي راغله اوماینونو3 ټانګونه او6 عسکر له منځه یوړل

دغزني ولایت دزنه خان ولسوالۍ ودانۍ دمجاهدینوله لوري دسپکواودرنو وسلوتربریدلاندي راغله ،دبریدپه مهال سیمي ته دمرستي له پاره یرغلګرعسکرراغلل چې3 ټانګونه یې دځای په ځای شویوماینونو ښکارشول ،دچاودنوله امله درېواړه په بشپړه توګه ویجاړاو 6 تنه عسکرپکې ووژل شول او 8 تنه نورسخت ژوبل شول دبریدله امله دولسوالۍ ودانۍ هم پوره زیانمنه شوه اوپکې مېشتوعسکروته مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-11-07

شلګر کې 3 تنه عسکرووژل شول

دغزني ولایت دشلګرولسوالۍ په امک سیمه کې دګډدښمن په ګزمه وسلوال بریدترسره شو ،په بریدکې 3 تنه عسکرووژل شول او ګڼ نورټپیان شول.2012-11-07

ګیرو ولسوالۍ تربریدلاندي راغله

دغزني ولایت دګیرو ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال بریدترسره شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتوپه اړه دقیق معلومات نشته. 2012-11-07

شلګر کې دقومندان عبدالرؤف موټرپه ماین والوت

دغزني ولایت دشلګرولسوالۍ په قولن نومي سیمه کې مجاهدینوداربکي قومندان عبدالرؤف موټرپه ماین والوزاوه، په چاودنه کې دنوموړي موټرپوره تخریب اوپه دې سربېره 1 تن ساتونکی عسکریې ووژل شو او2 نورشدیدټپیان شول. 2012-11-07

واغظ کې 1 بهرنی عسکرووژل شو

دغزني ولایت دواغظ ولسوالۍ په چارده سیمه کې دبهرنیوعسکروپه ګزمه دوسلوال بریدپه مهال یوتن بهرنی عسکرووژل شواوګڼ نورعسکرټپیان شول.2012-11-08

غزني مرکزته څېرمه په چریکي بریدکې1 امریکایي عسکرووژل شو

دغزني ولایت مرکزته نژدې په نوغه سیمه کې دامریکایي عسکروپه پلې ګزمه دوسلوال برید په ترڅ کې یو تن امریکایي عسکر ووژل شواوشمېرنورټپیان شول.2012-11-08

ګیرو ولسوالۍ په هفتادپنج وویشتل شوه

دغزني ولایت دگیرو ولسوالۍ ودانۍ دهفتادپنج په 5 مرمیودقیق وویشتل شوه ،په برید کې دښمن ته داوښتي مالي اوځاني زیان په اړه تراوسه پوري دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي2012-11-08 .

دقرباغ ولسوالۍ ولسوالۍ او3 عسکر ټپیان شول

دغزني ولایت دقرباغ ولسوالۍ دمشکي په سیمه کې ددې ولسوالۍ دولسوال (زیت الله) په موټروسلوال بریدترسره شو، په ترڅ کې یې دنوموړي موټر تخریب اودده په شمول ۴ تنه ساتونکي عسکرهم شدیدټپیانشول.2012-11-09

مقرکې په اشغالگروعسکرو2 ځله بریدوشو

دغزني ولایت دمقرولسوالۍ په محمدشاخیلو او اخندخېلوسیمو کې داشغالگروعسکروپه گزمه دوه ځله وسلوال بریدترسره شو،خبر کاږي دواړو سیمو ته له جگړې وروسته چورلکي راغلې اوخپل وژل شوي عسکریې پکې انتقال کړل2012-11-10

غزني مرکزته نژدې 1 زغروال ټانگ له منځه لاړ

دغزني ولایت دمرکزاړوندپه زوړ تانگ سیمه کې داشغالگروعسکروپه گزمه چریکي بریدترسره شو، په ترڅ کې یې یوزغروال ټانگ په راکټ لانچر وویشتل شواوپه بشپړه توگه له منځه لاړ خو دښمن ته داوښتي مرگ ژوبلي په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي 2012-11-10

مقرکې ماین ټانگ او3 یرغلگر له منځه یوړل

دغزني ولایت دمقرولسوالۍ په خمت خېلوسیمه کې دیرغلگرو عسکروپه زغروال ټانگ درنه چاودنه وشوه چاودني له امله ټانگ ویجاړ اوپکې سپاره 3 تنه عسکرځای په ځای ووژل شول او4 تنه نورعسکر سخت ژوبلشول.2012-11-10

دگیرو ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

دغزني ولایت دگیرو ولسوالۍ په ودانۍ دسپکواودرنو وسلو بریدترسره شو، دبریدله امله دولسوالۍ ودانۍ پوره زیانمنه شوه خودمرگ ژوبلي په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-11-11

گیلان کې 2 اکمالاتي موټروسوځول شول

دغزني ولایت گیلان ولسوالۍ په مطیع پله سیمه کې اشغالگروته دلېږدپه کاروان دوسلوال بریدپه مهال2 باردار موټروسوځېدل اوپه دې سربېره کاروان ساتونکوعسکروته هم درنه مرگ ژوبله واوښته2012-11-11

واغظ کې ماین ټانگ او4 یرغلگر له منځه یوړل

دغزني ولایت دواغظ ولسوالۍ په چارده سیمه کې دیرغلگروعسکروپه زغروال ټانگ چاودنه وشوه ،دچاودني له امله ټانگ پوره ویجاړاو 4 تنه یرغلگرعسکرو وژل شول. 2012-11-11

گیلان کې یوې تکتیکي چاودني9 عسکروته مرگ ژوبله واړوله

دغزني ولایت د گیلان ولسوالۍ په غونډۍ سیمه کې داجیري اردوپه پلیوعسکرو یوموټرسایکل چې چاودیدونکي مواد ورپکې ۴ځای په ځای شوي وو وچاودېد، په چاودنه کې 5 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړ او 4 نورسخت ژوبل شول. 2012-11-11

قرباغ کې ماین ټانگ ویجاړاو3 یرغلگرووژل

دغزني ولایت دقرباغ ولسوالۍ په باران کلاسیمه کې دیرغلگروعسکروپه زغروال ټانگ دځمکني ماین چاودني ټانگ پوره ویجاړ، 3 تنه یرغلگرعسکر ووژل او2 تنه نوریې سخت ژوبل کړل. 2012-11-12

ده یک کې دگډدښمن گزمه تربریدلاندي راغله

دغزني ولایت د ده یک ولسوالۍ مرکزته نژدې دگډدښمن په گزمه دوسلوال بریدپه مهال دښمن ته درنه مرگ ژوبله واوښته. خبروایي په جگړه کې یوتن مجاهدسرسرکي ټپي شو. 2012-11-12

غزني مرکزته نژدې 3 موټرتخریب او2 غنیمت شول

دغزني ولایت مرکزته نژدې په نوغه سیمه کې داشغالگروعسکروپه اکمالاتي کاروان دوسلوال بریدپه مهال 3 موټرپه پوره ډول تخریب شول ،2 غټ باردارموټرغنیمت اوپه دې سربېره دکاروان 4 تنه

ساتونکي عسکر ووژل شول او 5 نور سخت ژوبل شول. 2012-11-12

دغزني په شلګر کې چاودني 4 ګوډاګي عسکر ووژل

دغزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په قدم خېل سیمه کې دګوډاګیو عسکرو په رېنجر موټر دځمکني ماین چاودن ه وشوه، دچاودني له امله موټر تخریب او 4 تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول. 2012-11-12

غزني کې دګډ دښمن ګزمه تر برید لاندي راغله

دغزني ولایت دمرکز اړوند په قرباغي سیمه کې دګډ دښمن په ګزمه وسلوال برید تر سره شو، په برید کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوي دبرید په مهال ددښمن په متقابلو ډزو کې یو تن مجاهد سر سر کې ټپي شو. 2012-11-13

شلګر کې 3 موټر تخریب او 1 ګوډاګي عسکر ووژل شول

دغزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په عاشق والو، ګوریانو او لیوانو سیمه کې د کاروان په ساتونکو عسکرو پراخ وسلوال برید تر سره شو، داوږدمهالې جګړې په ترڅ کې 3 عرادې سرف موټر په پوره ډول ویجاړ او په دې سربېره 10 تنو سکور ټیانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او 7 تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-11-13

ده یک کې اشغالګرو 1 ملکي وګړی بندي کړ

دغزني ولایت د ده یک ولسوالۍ په سنګر کلي باندي اشغالګرو عسکرو چاپه ووهله، دخبر له قراره اشغالګرو د تلاشي په مهال عامو خلکو ته درانه مالي اوځاني زیانونه واړول او په پای کې یې یو تن ملکي وګړی له ځان سره یووړ. 2012-11-14

دخوګیاڼو ولسوالۍ په ودانۍ بریدو شو

د غزني ولایت دخوګیاڼو ولسوالۍ په ودانۍ دسپکو او درنو وسلو برید تر سره شو، دبرید له امله دښ من ته داوښتي مالي اوځاني زیان په اړه کره شواهد نه دي ترلاسه شوي . 2012-11-14

مقر کې ددښمن په پوستو برید 3 عسکر ووژل شول

دغزني ولایت دمقر ولسوالۍ په نامدار کلاسیمه کې دګډ دښمن په پوستو وسلوال بریدونه تر سره شول، په ترڅ کې یې دپوستو ودانۍ زیانمني او په دې سربېره 1 تنه عسکر هر یو حبیب الرحمن دچار کلاد کلي، جانان دعامل خېل کلي او سېدونکی او بوبل اربکی ووژل شول 2012-11-16

مقر کې په پوسته برید، 1 عسکر ووژل شو

دغزني ولایت دمقر ولسوالۍ په نامدار کلاسیمه کې ددښمن په پوسته د دراز کوف او هشتاددو برید تر سره شو، په برید کی دپوستې ودانۍ زیانمنه او په دې سربېره 1 تن عسکر ووژل شو او ګڼ نور ټپیان شول. 2012-11-17

ګیرو کې په اکمالاتي کاروان بریدو شو

دغزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ په بدي سیمه کې داشغالګرو عسکرو په اکمالاتي کاروان وسلوال برید تر سره شو، په برید کې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي په اړه دقیق معلومات نشته. 2012-11-17

دګیرو ولسوالۍ په ودانۍ بریدو شو

دغزني ولایت دګیرو ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید تر سره شو، دبرید له امله یاده ودانۍ پوره تخریب او پکې میشتو عسکرو درنه مرګ ژوبله واوښته 2012-11-17

شلګر کې ماین دجاسوسي ادارې 2 کارمندان ووژل

دغزني ولایت په شلګر ولسوالۍ کې دجاسوسي ادارې د کارمندانو په ډاټسن موټر زوروره چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر ویجاړ، 2 تنه یاد کارمندان ووژل شول او 2 نور شدید ټپیان شول. 2012-11-17

ګیرو کې ماین ټانګ او 5 یرغلګر له منځه یوړل

دغزني ولایت دګیرو ولسوالۍ په خروټو سیمه کې دیرغلګرو عسکرو زغروال ټانګ په ماین الوزول شو، په چاودنه کې ټانګ په پوره ډول له منځه لاړ او پکې ناسټ تنه یرغلګر عسکر ځای په ځای وژل شول. 2012-11-17

شلګر کې 4 تنه عسکر ووژل شول

دغزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په ملاګلان سیمه کې داجیري اردو په ګزمه وسلوال برید تر سره شو، دبرید په

ترخ کې 4 تنه عسکرووژل شول او 3 نور شدیدټپیان شول. 2012-11-19

گیرو کې چاودنو2 ټانګونه او4 عسکر له منځه یوړل

دغزني ولایت د گیرو ولسوالۍ په گیرو سیمه کې داجیري اردو2 زغروال ټانګونه په ماینونو والوزول شول. دچاودنوله املې دواړه ټانګونه ویجاړاوپکې سپاره 4 تنه عسکر ووژل شول او6 تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-11-19

شلگر کې 2 تنه عسکرووژل شول

دغزني ولایت دشلگر ولسوالۍ په سرده سیمه کې داجیري اردوپه گزمه وسلوال بریدترسره شو.دبریدپه ترخ کې 2 تنوگوډاګیوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړ. 2012-11-19

شلگر کې وحشي اربکیانو ملاامام او2 کلیوال شهیدان کړل

دغزني ولایت دګیرو ولسوالۍ په شیله کلي باندې څوورځې وړاندې وحشي اربکیانواوداجیري اردوعسکرو چاپه ووهله ،هغوئ دچاپې په مهال دملاامام ذبیح الله په گډون 7 تنه کلیوال بندیان کړل ،خبروایي وحشي اربکیانوله نیول شویو کسانوڅخه مولوي ذبح الله اودوه تنه کلیوال دشلگر ولسوالۍ په کنصف کې په شهادت ورسول. انالله وانالیه راجعون 2012-11-20

شلگر کې 2 پولندې عسکرووژل شول

دغزني ولایت د شلگر ولسوالۍ په نانې سیمه کې دپولندې عسکروپه پلې گزمه دوسلوال بریدپه مهال 2 تنه پولندې عسکروژل شول اوګڼ نور ژوبل شول 2012-11-20

شلگر کې دگوډاګیوعسکروپوسته تربریدلاندې راغله

دغزني ولایت دشلگر ولسوالۍ مرکزته نژدې

دگوډاګیوعسکروپه پوسته وسلوال بریدترسره شوبریدپه مهال دپوستې ودانۍ پوره زیانمنه شوه اوپکې میشتوعسکروته دچاودنې له املې موټر تخریب قومندان میرزامحمدا3 تنه عسکرپه سخت ټپیان شول 2012-11-28

غزني:په اکمالاتي کاروان برید،6 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

غزني ولایت دمرکزاروندپه زلزله سیمه کې اشغالګروته دماینونوبنکارا وبشپړه توګه له منځه لاړل ، په چاودنو کې ددښمن 10 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړ او 6 تنه نورپې شدیدټپیان شول. 2012-11-21

گیرو : دګډ ددښمن 9 ټانګونه او3 موټر له منځه لاړل

دغزني ولایتپه گیرو ولسوالۍ کې ددښمن هغه عسکرچې دعملیاتوپه موخه دغې ولسوالۍ ته تللې وو له شرمونکي ماتې سره مخ شول دعملیاتوپه مهال دګډ ددښمن9 زغروال ټانګونه او3 رېنجر موټرپه ماینونوالوزول څواوپه پوره توګه له منځه لاړل،په دې سربیره ددښمن په لسګونوعسکروژل شول اوګڼ نور ژوبل شول.2012-11-26

گیلان : ددښمن پوسته تربریدلاندې راغله

دغزني ولایت دګیلان ولسوالۍ مرکزته نژدې ددښمن پوسته دمجاهدینوتربریدلاندې راغله ، دبریدله املې ددښمن ته داوښتې زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-11-26

گیلان : ماین ټانګ ویجاړاو5 یر غلګروژل

دغزني ولایت دګیلان ولسوالۍ په و پرسیمه کې دیر غلګروعسکروپه زغروال ټانګ دځمکني ماین چاودنې ټانګ ویجاړاو5 تنه یر غلګر عسکروژل2012-11-27

واغظ :1 بهرنی او2 کورني عسکرووژل شول

دغزني ولایت دواغظ ولسوالۍ په چاده سیمه کې

دګډ ددښمن په گزمه وسلوال بریدترسره شو،دبریدپه مهال یوتن بهرنی او2 کورني عسکر ووژل شول اوګڼ نورټپیان شول. 2012-11-27

مقر:ماین قومندان میرزامحمدشهیدکړ سخت ژوبل کړل

دغزني ولایت دمقرولسوالۍ په شالي خېل سیمه کې

دارېکیانودقومندان میرزامحمدپه موټر درڼچاودنه وشوه. دچاودنې له املې موټر تخریب قومندان میرزامحمدا3 تنه عسکرپې سخت ټپیان شول 2012-11-28

غزني:په اکمالاتي کاروان برید،6 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

غزني ولایت دمرکزاروندپه زلزله سیمه کې اشغالګروته

دلیږدیه کاروان دوسلوال بریدیه مهال دکاروان 6 تنوساتونکوعسکروته مرګ ژوبلهښتلوپه دې سربیره یوغټ بارلرموټرپه پورهجول تخریب شو. 2012/11/30

غزني مرکزته نژدې دګودښمن 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دغزني ولایت دمرکزاړوند په منګور سیمه کې دګودښمن په ګزمه دوسلوال بریدیه مهال 5 تنوعسکروته مرګ ژوبله واوښته اونورله سیمې نه په تېښته بریالي شول. 30-11-2012

اب بند: یوتن مجاهد 3 پولیس ووژل

دغزني ولایت داب بندولسوالي په سرپراز کلاسیمه کې یوتن مجاهد دپولیسو په پلې ګزمه دبرید په مهال دګودااګي اداري 3 تنه پولیس ووژل او2 نور یې شدیدټپیان کړل دخبر له مخې برید کونکی مجاهد دنورو پولیسو په ډزو کې سرسر کې ټپي شو خو ﷲ الحمدله مجاهدینوسره یوخای شو. 30-11-2012

شلګر: 2 ټانکروسوځول شول او2 نور غنیمت شول

دغزني ولایت دشلګرولسوالي په سردار کلاسیمه کې په اکمالاتي کاروان دسپکو اودرنو وسلو بریدترسره شو. په بریدکې 2 ټانکرموټران پهره وسوځېدل اوپه دې سربیره دکاروان 2 تنه ساتونکي عسکرووژل شول او ګڼ نور ټپیان شول .خبروایي دبریدپه مهال دکاروان 2 ټانکرموټرچې تېل پکې بار وو غنیمت شول. 30-11-2012

ننګرهار

اچین: 3 تنه عسکر له مجاهدینوسره یوځای شول

دننګرهارولایت په اچین ولسوالي کې 3 تنه عسکرهریوبارعالم، زمروت اومینه ګل له مجاهدینوسره یوځای شول. 02-11-2012

بتي کوټ: 2 ټېلرموټرله منځه لاړل

دننګرهارولایت دبتي کوټ ولسوالي دپارم سي په سیمه کې اشغالګروته دلیږدیه کاروان دوسلوال بریدپه مهال 2 ټیلرموټر وبجارل او 4 تنه عسکراوموټروانان یې ووژل شول. 02-11-2012

بتي کوټ: په امنیتي پوسته وسلوال بریدترسره شو

دننګرهارولایت دبتي کوټ ولسوالي دځلورم پارم سره ددښمن په امنیتي پوسته وسلوال بریدترسره شو. دبریدپه ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خوکره شمیره یې نه ده څرګنده شوې. 04-11-2012

غني خیل: داکمالاتي کاروان 2 ټانکروسوځول شول

دننګرهارولایت دغني خېلوولسوالي اړوند 24 ویالي سره دتورخم جلال اباد په لویه لاره ددښمن په اکمالاتي کاروان دوسلوال بریدپه مهال ددښمن دوه ټانکر بشپړ وسوځول شول خودمرګ ژوبلې په اړه یې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 04-11-2012

هسکه مینه: ماین 5 پولیس مړه اوژوبل کړل

دننګرهارولایت دهسکې مېرۍولسوالي په میرانوسیمه کې دپولیسوپه پلې ګزمه دځمکني ماین چاودني 3 تنه پولیس ووژل او2 نور یې سخت ژوبل کړل. 05-11-2012

غني خیل: دګودااګیوعسکروددقومندان معاون سخت ټپي شو

دننګرهارولایت دغني خیل ولسوالي دګلاهي په کلي کې دګودااګیوعسکروددقومندان په معاون (حبیب ﷲ) دځمکني ماین درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې حبیب ﷲ سخت ټپي شو. 06-11-2012

چپرهار: ولسوالي اوقومندانۍ تربریدلاندې راغله

دننګرهارولایت دچپرهارولسوالي په ودانۍ اوامنیه قومنداني وسلوال برید ترسره شو. دبریدله املې دیادو مرکزونو ودانیوته په زیان اوښتو سربیره 4 تنه پولیس سخت ژوبل شول. 07-11-2012

مهمندره: یوتن پولیس په درازکوف وویشتل شو

دننګرهار ولایت دمهمندرې ولسوالۍ په کاري سیمه کې یو تن پولیس په خپله پوسته کې په درازکوف په نښه اوڅای په ځای ووژل شو. 2012-11-07

هسکه مینه : ماین د2 پولیسوژوندواخیست

د ننګرهار ولایت دهسکې مېرۍ ولسوالۍ په مریزسیمه کې د پولیسوپه پلي ګزمه دښځ کرل شوي ماین چاودني 2 تنه پولیس و وژل او 2 نورپولیس یې سخت ژوبل کړل. 2012-11-08

بتي کوټ: ددښمن پوسته تر بریدلاندې راغله

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ په فارم چهارسیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال برید تر سره شو،دبرید له امله دپوستې ودانۍ پوره زیانمنه اوپکې میشتوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته. 2012-11-08

په سپین غرولسوالۍ، امنیه قومنداني اوسرحدي کنډک بریدوشو

دننګرهار ولایت دسپین غر ولسوالۍپه ودانۍ، امنیه قومنداني اوسرحدي کنډک دمجاهدینولهلوري دهلهراند تر سره شوپه برید کې دیادومرکزونو ودانۍ زیانمني شوي خودمرګ ژوبلې پرڅوبله واوښته. 2012-11-13

هکله کړه شواهدنه دي تر لاسه شوې. 2012-11-0

دنازیانوولسوالۍ ودانۍ په میزایلووویشتل شوه

دننګرهار ولایت دنازیانوولسوالۍ په ودانۍ 3 میزایل وتوغول شول چې دخبرله قراره په ټاکل شوي هدف ولګیدل،دبریدله امله دښمن ته دروندزیان واوښت خو په هکله یې دقیق معلومات نشته. 2012-11-10

شیرزاد: اشغالګرو1 ملکي وګړی بندي کړ

دننګرهار ولایت دشیرزادوولسوالۍ په کندمک نومي سیمه کې اشغالګروعسکرو دعاموخلکوپه کورونوچاپه ووهله،اشغالګروعسکرو دبې رحمانه تلاشي په مهال خلکوته مالي زیانونه واړول اوپه دې سربیره یې یوتن ملکي وګړی له ځان سره یووړ. 2012-11-10

دورباباد: ددښمن په مرکزمیزایل وارشول

دننګرهار ولایت ددورباباولسوالۍ په ګاګري سرسیمه کې دسرحدي پولیسو کنډک په 2 میزایلودقیق وویشتل شو،دبریدله امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه شواهدنه دي تر لاسه شوي. 2012-11-10

چپرهار: داکمالاتي کاروان دتیلوټانکروسوځول شو

دننګرهار ولایت دچپرهارولسوالۍ په مانوسیمه کې په اکمالاتي کارواندوسلوال بریدپه مهالیوټانکرموټرووېشتل شواوپه بشپړه توګه وسوځېد 2012-11-11

بتي کوټ: دیرغلګروپه ګزمه بریدوشو

دننګرهار ولایتدبتي کوټ ولسوالۍ په باریکاب سیمه کې دیرغلګروعسکروپه پلي ګزمه ګزمه وسلوال برید تر سره شو،په برید کې دښمن ته مرګ ژوبلهواوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-11-12

داګام ولسوالۍ ودانۍ تر بریدلاندې راغله

دننګرهار ولایت داګام ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید تر سره شو،په ترڅ کې یې دولسوالۍ ودانۍ پوره زیانمنه شوه،په دې سربیره 5 تنوپولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. 2012-11-13

بتي کوټ: ددښمن په پوسته بریدوشو

دننګرهار ولایتدبتي کوټ ولسوالۍ په باریکاب سیمه کې ددښمن په پوسته دوسلوال برید په مهال دپوستې ودانۍ تخریب اوپکې میشتوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته ،خبروایي دجګړې په مهال یوتن مجاهددشهادت لوړمقام ته ورسېد. اناالله وانا الیه راجعون 2012-11-13

دبتي کوټ ولسوالۍ ودانۍ تر بریدلاندې راغله

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالۍ په ودانۍ دوسلوال برید له امله دولسوالۍ ودانۍ پوره زیانمنه اوپکې میشتوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-11-14

لعلپور کې ددښمن تعرضي بریدپه شاوتمبول شو

دننګرهار ولایت په لعلپورولسوالۍ کې دګډ ددښمن عسکرو دمجاهدینوپه مرکزونوزمیني اوهوایي تعرض وکړ چې

دمجاهدینوله سخت وسلوال مقاومت سره مخ شو ل، په جګړه کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته اودتلفاتوپه لیدلوسره له سیمي وتښتېدل. 2012-11-17

کوټ: ددښمن په پوستوبریدونه وشول

دننګرهارولایت دکوټ ولسوالۍ په شاخیلو کلي کې داربکیانوپه پوستو وسلوال بریدونه ترسره شول ،دبریدله امله دپوستو ودانیوته زیان واوښت خودمرګ ژوبلي په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-11-17

د دره نورولسوالۍ ودانۍ تربریدلاندي راغله

دننګرهارولایت د دره نور ولسوالۍ په ودانۍ دسپکواودرنووسلوبرید ترسره شو،دبریدله امله دولسوالۍ ودانۍ پوره تخریب شوه اوپکې مېشتوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته. 2012-11-17

غني خیل: 2 موټراو5 عسکرله منځه لاړل

دننګرهارولایت دغني خیلو ولسوالۍ په 26مه ویاله سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه چاودنه اوبریدترسره شو،په برید کې2 موټرپه مکمل ډول ویجاړ شول،5 تنه عسکرووژل شول او3 نورشدیدټپیان شول 2012-11-17

مهمندره : داشغالګروپه بیس میزایل وارشول

دننګرهارولایت دمهمندرې ولسوالۍ په تورخم سیمه کې دامریکایي عسکروپه بیس 3 میزایل وتوغول شول چې دخبرله مخي په هدف ولګېدل، دبریدله امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.2012-11-19

خوګیانوکې 2 جلاچاودنوټانګ او عسکرله منځه وړل

دننګرهارولایت دخوګیانو ولسوالۍ په دروازګي کنډوسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه او دمملي دسپېدارانوپه سیمه کې په یوزغروال ټانګ دماین چاودنه وشوه، په چاودنوکې 2 تنه عسکرووژل شول او3 نورسخت ژوبل شو ل، په دې سربېره ټانګ هم په پوره ویجاړشو. 2012-11-19

نازیانوکې په رېنجرچاودني 4 پولیس ووژل

دننګرهارولایت دنازیانو ولسوالۍ په سروبي سیمه کې دپولیسورېنجرموټرپه ماین والوزول شو ،دچاودني له امله رینجر ویجاړ 4 تنه پولیس ووژل شول او2 تنه پولیس شدیدټپیان شول. 2012-11-19

غني خیل : ددښمن پوسته تربریدلاندي راغله

دننګرهارولایت دغني خیلوولسوالۍ په 24مه ویاله سیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو ،دبریدمهال دپوستې ودانۍ پوره زیانمنه شوه خودمرګ ژوبلي په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-11-19

دحصارک ولسوالۍ په ودانۍ میزایل وارشول

دننګرهار دحصارک ولسوالۍ په ودانۍ 2 میزایل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل له امله یې دښمن ته دروندزیان واوښت خپه اړه یې دقیق معلومات نشته 2012-11-19

غني خیل: 1 ټانګ تخریب او 3 عسکرمړ اوژوبل شول

دننګرهارولایت دغني خیل ولسوالۍ په 25مه ویاله سیمه کې داجیري اردوپه موټریز کاروان وسلوال بریدترسره شو ،دبریدپه مهال ددښمن 1 زغروال ټانګ پوره ویجاړ اوپه دې سربېره 3 تنوعسکروته مرګ ژوبله واوښته. 2012-11-19

چپرهارکې ددښمن په پوسته بریدوشو

دننګرهارولایت دچپرهارولسوالۍ د دولت زیودملاصاحب په سیمه کې ددښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو،دبریدله امله دښمن ته دروندمالي اوځاني زیان واوښت خودشپې دتیارې له کبله یې په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-11-22

مهمندره :په امریکایي بیس میزایل وارشول

دننګرهارولایت دمهمندرې ولسوالۍ په تورخم سیمه کې داشغالګروعسکروپه بیس 3 میزایل وتوغول شول ،خبروایي توغول شوي میزائل په ټاکل شوي هدف ولګېدل اوله امله یې دښمن ته دروندمالي اوځاني زیان واوښت. 2012-11-22

په ننګرهار کې دناټو په مهم مرکز فدايي برید ترسره شو ګڼ بهرني عسکر قتل شول

ننګرهار ولایت په تورخم کې دناټو قواوپه مرکز کې دننه دیوتن قهرمان مجاهد خالد ننګرهاری لخوا دسراچه موټر په توسط فدايي برید ترسره شو.په برید کې چې دیر غلګر وعسکرو استوګنځایونه، خوړنځایونه،اودپیري دشفت مرکز ورپکې په نښه شوی ووګڼ شمېر لوړپوړي افسران ووژل شول اوپه دې سربېره دښمن ته درانه تلفات واوښتل. 2012-11-23

کوټ: په موټر چاونه کې دوه پولیس ټپیان شو

ننګرهارولایت دکوټ ولسوالي دجبي غونډې په سیمه کې دپولیسو په یورینجر موټر دځمکنۍ ماین درنه چاودنه وشوه.دچاودنې له امله رینجر پوره ویجاړاودوه تنه پولیس پکې سخت ژوبل شول. 2012-11-25

رودات: دجاسوسي اداري کارمندووژل شو

ننګرهارولایت درودات ولسوالي دتېتنګ په سیمه کې دجاسوسي اداري یوتن کارمند (اسدالله)دیو دغلچکي برید په ترڅ کې ووژل شو. 2012-11-25

حصارک: دنظم عامه دپولیسو کنډک مشرووژل شو

ننګرهارولایت دحصارک ولسوالي ودانۍ ته نژدې دنظم عامه پولیسوپه کرۍ ک مشر (عزیزالله)غلچکي برید ترسره شوچې په مهال یې نومورې ووژل شواودوه تنه ساتونکي یې ژوبل شول. 2012-11-25

د شیرزادو ولسوالي ته ودانۍ بریدشو

ننګرهارولایت دشیرزادو ولسوالي په ودانۍ دسپکواودرنو وسلو برید ترسره شو، دبریدله امله دولسوالي ودانۍ زیانمنه شوه اوپه دې سربېره 4 تنه پولیس پکې ټپیان شول. 2012-11-27

کوټ:7 عسکراو3 موټر له منځه لاړل

ننګرهارولایت کوټ ولسوالي دسې پای په خورګي سیمه کې له اجیري اردو، پولیسو اوپه اصطلاح دملي امنت له عسکروسره دخونړیاورډمهالي نښتې په ترڅ کې ددښمن 7 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړل تنه نورې شدیدټپیان شول ،په دې سربېره 1 رینجر موټرپه مکمل ډول سوځول شواو2 نورهم په پوره ډول تخریبشول، په جګړه کې 3 تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل اونورټپیان شول. انالله وانالیه راجعون 2012-11-2

چاودنې 2 تنه پولیس سخت ژوبل کړل،په چاودنه کې موټرهم پوره تخریب شو. 2012-11-26

اچین : داشغالګروټانګ په ماین والوت

ننګرهارولایت داچین ولسوالي په ګړکوسیمه کې داشغالګروعسکروزغروال ټانګ په ماین والوزول شو ،دچاودنې له امله ټانګ تخریب شو خودمرګ ژوبلې کړه شمېره نه ده څرګنده شوې. 2012-11-27

اګام :دبیس بالون وویشتل شواوله منځه لاړ

ننګرهارولایت په اګام ولسوالي کې داشغالګروعسکروپه بیس وسلوال برید ترسر شو،دبریدپه ترڅ کې دښمن ته په نور مالي اوځاني زیان سربېره دبیس څارګربالون وویشتل شواوپه بشپړه توګه له منځه لاړ 2012-11-27

سپین غر: په سرحدي کنډک میزایل وویشتل شول

ننګرهارولایت په سپین غرولسوالي کې دسرحدي پولیسوپه کنډک 2 میزایل وتوغول شول چې دخبر له قراره په تاکلي هدف ولګېدل، په برید کې دښمن ته داوښتې زیان کړه شواهد نه دي ترلاسه شوي 2012-11-27

د دورباباولسوالي په ودانۍ برید،4 پولیس ټپیان شول

ننګرهارولایت د دورباباولسوالي ودانۍ دسپکواودرنو وسلو تربرید لاندې راغله ،دبریدپه مهال دولسوالي ودانۍ زیانمنه شوه اوپه دې سربېره 4 تنه پولیس پکې ټپیان شول. 2012-11-27

کوټ:7 عسکراو3 موټر له منځه لاړل

ننګرهارولایت کوټ ولسوالي دسې پای په خورګي سیمه کې له اجیري اردو، پولیسو اوپه اصطلاح دملي امنت له عسکروسره دخونړیاورډمهالي نښتې په ترڅ کې ددښمن 7 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړل تنه نورې شدیدټپیان شول ،په دې سربېره 1 رینجر موټرپه مکمل ډول سوځول شواو2 نورهم په پوره ډول تخریبشول، په جګړه کې 3 تنه مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل اونورټپیان شول. انالله وانالیه راجعون 2012-11-2

ماین موټر تخریب او2 پولیس ټپیان کړل

ننګرهارولایت داچین ولسوالي دپښې خوړپه دوسر کې سیمه کې دپولیسوپه رینجر موټر دښخ کړل شوي ماین

خوګیاڼو: دتیلو ټانکرو سوځول شول

دننګرهار ولایت دخوګیاڼو ولسوالۍ په خوګي چینو سیمه کې اشغالګرو عسکرو ته تیل وړونکی ټانکر دمجاهدینو له خوا په مکمل ډول وسوځول شو 2012-11-27.

مهمندره: دسرحدي پولیسو په بیس میزایل وار شول

ننګرهار ولایت دمهمندرې ولسوالۍ په تورخم سیمه کې دسرحدي پولیسو بیس په 4 میزایلو دقیق وویشتل شو، دبریدله امله دښمن ته دسراومال درانه تلفات واوښتل خو په هکله یې تر اوسه پوري دقیق معلومات نشته. 2012-11-28

دلعلپور ولسوالۍ په ودانۍ برید، دامنیه قومندان په ګډون 8 عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دننګرهار ولایت دلعلپور ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو، د اوږدمهالي جګړې په ترڅ دولسوالۍ ودانۍ پوره زیانمنه، یوعراده رېنجر موټر ویجاړ، 3 پولیسو خپل ژوندله لاسه ورکړ او دامنیه قومندان (احمدخان) او دپولیسو دټولي مشر په شمول 3 تنه پولیس سخت ژوبل شول 2012-11-28.

چپرهار: داګام ولسوالۍ له بیس نه په تښتېدونکو عسکرو برید او چاودنو زیان واړواوه

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ په ماڼو، حافظانو او سرې قلعه سیمو کې دګډ دښمن په هغه موټریز کاروان دښخ کړل شو یو ماینونو چاودني او وسلوال بریدونه ترسره شو چې داګام ولسوالۍ په مرکز کې یې خپل غټ بیس تخل یه کړ، په چاودنو او بریدونو کې 1 زغروال ټانګ او 1 ټیلر موټر په بشپړ ډول له منځه لاړل او ګڼ نور موټر تخریب شول په دې سربېره د دښمن 4 تنه عسکر سخت ژوبل شول. 2012-11-28

دچپرهار ولسوالۍ دولسوال معاون ووژل شو

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ په عیدیاخیلو سیمه کې د دې ولسوالۍ د ولسوال معاون (انصارالله پاچا) د یو وسلوال برید په ترڅ کې ووژل شو او وسله اوچانته یې غنیمت شوه. 2012-11-29

غني خېل: په بیس میزایل وار شول

دننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې دګډ دښمن په بیس 2 میزایل وتوغول شول چې دخبر له مخې په ټاکل شوي هدف ولګېدل، دبرید له امله دښمن ته دروندمالي اوځاني زیان واوښت. 2012-11-29

بټي کوټ: یو اکمالاتي کانټینر له منځه لاړ

دننګرهار ولایت دبټي کوټ ولسوالۍ په حافظ کوډي سیمه کې اشغالګرو ته دلیږد په کاروان دوسلوال برید په ترڅ کې یو کانټینر موټر په بشپړه توګه له منځه لاړ او په دې سربېره 1 موټروان او 1 کلینر ووژل شول. 2012-11-29

غني خېل: یو اکمالاتي کانټینر له منځه لاړ

دننګرهار ولایت دغني خېلو ولسوالۍ په 24 مه ویاله سیمه کې دتورخم او جلال اباد دلویي لاري په سر دیرغلګرو عسکرو په اکمالاتي کاروان دوسلوال برید په مهال یو اکمالاتي کانټینر موټر پوره ویجاړ او په دې سربېره د کاروان ساتونکو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته 2012-11-30

جلال اباد: اکمالاتي ټیلر موټر دماین خوراک شو

دجلال اباد ښار ته نژدې په شیخ مصري سیمه کې داکمالاتي کاروان په ټیلر موټر چې امریکایي زغروال ټانګونه پکې بار وودرنه چاودنه وشوه، دچاودني له امله ټیلر په مکمل ډول تخریب او ټانګونو ته زیان واوښت. 2012-11-30

غني خېل: دبیس یخچال هینو موټر له منځه لاړ

دننګرهار ولایت دغني خېلو ولسوالۍ دسپین خوړ په سیمه کې دبیس اکمالاتي یخچال موټر دیو وسلوال برید په ترڅ کې ویجاړ او موټروان یې ووژل شو. 2012-11-30

خوګیاڼو: دبرید په مهال 2 یرغلګر سخت ژوبل شول

دننګرهار ولایت دخوګیاڼو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې دیرغلګرو عسکرو ګزمه دمجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې 2 تنه عسکر سخت ټپیان شو. 2012-11-30

لغمان

بادپخ : چاودني 5 عسکر مړه اوژوبل کړل

دلغمان ولایت دبادپخ ولسوالۍ په کوزه قلعه سیمه کې دګوډاګۍ اداري دعسکروپه زغروال ټانګ درنه چاودنه وشوه،چاودني ټانګ پوره تخریب او 5 تنوعسکروته پکې مرګ ژوبله واړوله. 2012-11-08

لغمان مرکزته څېرمه دیرغلګروپه بیس توغندي وارشول

دلغمان ولایت مرکزمهترلام ته نژدې په علي خیل سیمه کې دیرغلګروعسکروپه بیس توغندي وتوغول شول، توغول شوي توغندي په هدف ولګېدل ،دبریدله امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-11-08

علیشنګ : یوتن عسکرووژل شو

دلغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې یوتن عسکرحلیم خان دمجاهدینوله لوري دیوغلچکي بریدپه ترڅ کې ووژل شو. 2012-11-09

د دولت شاه ولسوالۍ په دفاعي پوسته بریدوشو

دلغمان ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په دفاعي پوسته وسلوال برید ترسره شو،دبریدله امله دپوستې ودانۍ پوره زیانمنه اوپه دې سربېره په برید کې 2 تنه عسکرسخت ژوبل شول. 2012-11-09

علینګار : له ګوډاګیوعسکروسره نښته ترسره شوه

دلغمان ولایت دعلینګارولسوالۍ په کنده رجۍ سیمه کې له ګوډاګیوعسکروسره درنه نښته ترسره شوه ،په اوږدمهاله نښته کې دښمن ته دسراومال دروندزیان واوښت. 2012-11-09

لغمان مرکزته څېرمه په پوسته برید،4 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دلغمان ولایت مرکزمهترلام ته نژدې په خواجه صاحب سیمه کې داجیري اردوپه پوسته دوسلوال بریدپه مهال دپوستې ودانۍ پوره تخریب شوه اوپه دې سربېره 1 عسکرپکې ووژل شواو3 نورشدیدټپیان شول 2012-11-11

علیشنګ : له دښمن سره نښته ترسره شوه

دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په جبین ډاګ سیمه کې ددښمن له عسکروسره دخونړۍ نښتي په ترڅ کې 2 تنه عسکرسخت ژوبل شول اونورله سیمي نه په تېښته بریالي شول. 2012-11-11

لغمان : چاودني د2 عسکرو ژوندواخیست

